# المائدة

**مدنی سورة دی، ۱۲۰ آیتونه لری.**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَوۡفُواْ بِٱلۡعُقُودِۚ أُحِلَّتۡ لَكُم بَهِيمَةُ ٱلۡأَنۡعَٰمِ
إِلَّا مَا يُتۡلَىٰ عَلَيۡكُمۡ غَيۡرَ مُحِلِّي ٱلصَّيۡدِ وَأَنتُمۡ حُرُمٌۗ إِنَّ ٱللَّهَ يَحۡكُمُ مَا
يُرِيدُ ١

**ای مؤمنانو ! په خپلو تعهداتو او تړونونو وفا وکړئ ( که فردی او ټولنیز وی، که سیاسی او دولتی وی او که شخصی نذر). د ټولو څارویو غوښه درته( له ذبح کولو وروسته) حلاله ده غیر له هغو چې تاسو ته به( د دې سورة په دریم آیت کې) بیان شی. د احرام په حال کی ( د ځمکنیو حیواناتو) ښکار هم ځان ته حلال مه ګڼئ، الله تعالی چې څنګه اراده وکړی( د خپل علم او حکمت له مخې او ستاسو د خیر او مصلحت لپاره) احکام صادروی.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُحِلُّواْ شَعَٰٓئِرَ ٱللَّهِ وَلَا ٱلشَّهۡرَ ٱلۡحَرَامَ وَلَا
ٱلۡهَدۡيَ وَلَا ٱلۡقَلَٰٓئِدَ وَلَآ ءَآمِّينَ ٱلۡبَيۡتَ ٱلۡحَرَامَ يَبۡتَغُونَ فَضۡلٗا مِّن رَّبِّهِمۡ
وَرِضۡوَٰنٗاۚ وَإِذَا حَلَلۡتُمۡ فَٱصۡطَادُواْۚ وَلَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ شَنَـَٔانُ قَوۡمٍ أَن
صَدُّوكُمۡ عَنِ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ أَن تَعۡتَدُواْۘ وَتَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلۡبِرِّ
وَٱلتَّقۡوَىٰۖ وَلَا تَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡعُدۡوَٰنِۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۖ إِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ
ٱلۡعِقَابِ ٢

**ای مؤمنانو! د الله تعالی( د دین) د شعایرو او نښو بې حرمتی مه کوئ او د حرام د ( هرې ) میاشتې له بې حرمتی هم ځانونه وساتئ( او جنګ جګړې پکې مه کوئ )، او د قربانی په څاروی،که د پیژندګلوی طوق یا**

هار يې په غاړه وي او که نه،هم بايد تيرى او تعرض و نه کړى، او نه هغه مسلمانان وزوروئ چې د الله تعالى د رضا لپاره بيت الله شريف ته( د حج يا عمرې لپاره) روان وي، او کله چې ( د احرام نه) فارغ او حلال شوئ( نو که مو خوښه وي) ښکار کولى شئ. او د (کافر) قوم د ښمنى چې تاسو يې له مسجد حرام نه منع کړي وئ، بايد تاسو د حدودو ماتولو او تيرى ( او انتقام اخستنې) ته، و نه هڅوي. په نيکو چارو او پرهيز ګارئ کې له يو بل سره مرسته وکړئ او په ګناه او تيرى کې د يوبل مرسته او لاس نيوى مه کوئ، د الله تعالى له عذابه وويرېږئ ځکه الله تعالى ( د خپلو احکامو سرغړوونکو ته) سخت عذاب ورکوى.

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ ٱلْمَيْتَةُ وَٱلدَّمُ وَلَحْمُ ٱلْخِنزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ لِغَيْرِ ٱللَّهِ بِهِۦ وَٱلْمُنْخَنِقَةُ وَٱلْمَوْقُوذَةُ وَٱلْمُتَرَدِّيَةُ وَٱلنَّطِيحَةُ وَمَآ أَكَلَ ٱلسَّبُعُ إِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ وَمَا ذُبِحَ عَلَى ٱلنُّصُبِ وَأَن تَسْتَقْسِمُواْ بِٱلْأَزْلَٰمِ ذَٰلِكُمْ فِسْقٌ ٱلْيَوْمَ يَئِسَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن دِينِكُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَٱخْشَوْنِ ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلْإِسْلَٰمَ دِينًا فَمَنِ ٱضْطُرَّ فِي مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِّإِثْمٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣﴾

په تاسې حرام کړى شوه د مردار شوى( حيوان) غوښه، وينه، د خوګ غوښه، د هر هغه حيوان غوښه چې د الله پاک نه غير د بل چا په نوم ذبح شوى وي، زندئ کړى شوى او مړ وي، په کوتک ( يا بل شي) وهل شوى او مړ وى، له لوړ ځايه راغورزيدلى او مړ وى، بل ځاروى په ښکرو وهلى او مړ وي، بل حيوان داړلى او مړ وى،( خو که په دغو پنځو واړو حالاتو کې، هر يو ځاروى په داسې حال کې ومونډل شي چې سا پکې وى او بيا د الله په نوم ذبح شي نو خوراک يې تاسو ته روا دى) او (حرامه ده په تاسو) د هغه حيوان غوښه چې د بتانو په نوم ذبح شوى وى، او د فال د غشو( په واسطه د خپلو راتلونکو چارو فيصله او پيشګويى هم درته حرامه ده) دا ټول کارونه فسق او ګمراهى ده. نن ورځ کافران، ستاسو د دين ( له ابطال او له منځه وړلو) نا اميده شول ( او پوهيږى چې اسلام ابدى او تل پاتې دين دى ، نو اى مؤمنانو!) له دغو کافرانو څخه مه ويرېږئ او له ما نه وويريږئ( چې ستاسو حقيقى رب يم). نن مى ستاسو د دين احکام ستاسو لپاره پوره کړل، په تاسو مى خپل ابدى نعمت ( د دين اکمال) ولوراوه، او اسلام مى ستاسو لپاره د مکمل او پاک دين په حيث غوره کړ،( نو د حلالو او حرامو احکام چې تاسو ته بيان شول په پوره توګه يې مراعات کړئ) خو که څوک د لوږې په اضطرارى حالت کې (د حرامو شيانو خوراک ته) اړ شي او نيت يې ګناه ته تمايل نه وى نو الله تعالى ښښونکى او رحم کوونکى ذات دى( او ښښنه ورته کوى).

يَسْـَٔلُونَكَ مَاذَآ أُحِلَّ لَهُمْ ۖ قُلْ أُحِلَّ لَكُمُ ٱلطَّيِّبَٰتُ ۙ وَمَا عَلَّمْتُم مِّنَ
ٱلْجَوَارِحِ مُكَلِّبِينَ تُعَلِّمُونَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ ٱللَّهُ ۖ فَكُلُوا۟ مِمَّآ أَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ
وَٱذْكُرُوا۟ ٱسْمَ ٱللَّهِ عَلَيْهِ ۖ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ سَرِيعُ ٱلْحِسَابِ ﴿٤﴾

(ای پیغمبره !خلک) ستا نه پوښتنه کوی چې کوم شیان دوی ته حلال دی؟ ورته ووایه چې ټول طیبات(پاک خوراکونه) درته حلال دی او هغه ښکار هم درته حلال دی چې تعلیمی سپیانو یا مارغانو درته نیولی وی، هغه( سپیان یا مارغان ) چې تاسو ورته د خپل خدایی علم په اساس د ښکار تعلیم ورکړی وی( او کله چې تعلیم یافته سپی یا باز د ښکار لپاره لیږئ نو) د الله پاک نوم ورباندی (د ذبحې په نیت) یاد کړئ، او د الله تعالی له عذابه وویریږئ بیشکه چې د الله تعالی د حساب سیستم ډیر چټک دی.

ٱلْيَوْمَ أُحِلَّ لَكُمُ ٱلطَّيِّبَٰتُ ۖ وَطَعَامُ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ حِلٌّ لَّكُمْ
وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَّهُمْ ۖ وَٱلْمُحْصَنَٰتُ مِنَ ٱلْمُؤْمِنَٰتِ وَٱلْمُحْصَنَٰتُ مِنَ ٱلَّذِينَ
أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ مِن قَبْلِكُمْ إِذَآ ءَاتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ مُحْصِنِينَ غَيْرَ
مُسَٰفِحِينَ وَلَا مُتَّخِذِىٓ أَخْدَانٍ ۗ وَمَن يَكْفُرْ بِٱلْإِيمَٰنِ فَقَدْ حَبِطَ
عَمَلُهُۥ وَهُوَ فِى ٱلْءَاخِرَةِ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ﴿٥﴾

نن ټول پاکیزه شیان تاسو ته حلال اعلانیږی، هم تاسو ته د اهل کتابو مذبوحه او خوراک حلال دی او هم ستاسو خوراک هغوی ته حلال دی. دغه راز کولی شئ پاک لمنې ښځې په نکاح واخلئ که مؤمنانې وی او که له هغو قومونو څخه وی چې ستاسو نه مخکی ورته کتاب ورکړی شوی دی ، په دې شرط چې شرعی مهرونه یې ورکړئ او په شرعی نکاح یې واخلئ، نه د شهوت بازۍ او پټې یارانې لپاره. او هر څوک چې له ایمان نه وروسته بیرته د کفر لاره غوره کړی( او د حلالو او حرامو په باب له الهی احکامو نه انکار او سرکشی وکړی) نو بیشکه چې ټول( نیک) اعمال یې ضایع کیږی او د قیامت په ورځ به تش لاسی او بیوزلی ولاړ وی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قُمۡتُمۡ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ فَٱغۡسِلُواْ
وُجُوهَكُمۡ وَأَيۡدِيَكُمۡ إِلَى ٱلۡمَرَافِقِ وَٱمۡسَحُواْ بِرُءُوسِكُمۡ
وَأَرۡجُلَكُمۡ إِلَى ٱلۡكَعۡبَيۡنِۚ وَإِن كُنتُمۡ جُنُبٗا فَٱطَّهَّرُواْۚ وَإِن
كُنتُم مَّرۡضَىٰٓ أَوۡ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوۡ جَآءَ أَحَدٞ مِّنكُم مِّنَ ٱلۡغَآئِطِ أَوۡ لَٰمَسۡتُمُ
ٱلنِّسَآءَ فَلَمۡ تَجِدُواْ مَآءٗ فَتَيَمَّمُواْ صَعِيدٗا طَيِّبٗا فَٱمۡسَحُواْ
بِوُجُوهِكُمۡ وَأَيۡدِيكُم مِّنۡهُۚ مَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيَجۡعَلَ
عَلَيۡكُم مِّنۡ حَرَجٖ وَلَٰكِن يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمۡ وَلِيُتِمَّ نِعۡمَتَهُۥ
عَلَيۡكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ٦

**ای مؤمنانو! کله چې لمانځه ته پاڅيږئ( او بې اودسه وئ) نو لومړی باید مخونه او بیا لاسونه تر څنګلو پورې ووینځئ، په سرونو مسحه وکړئ او پښې مو تر پړکیو ووینځئ او که د جنابت په حال کې یاست نو باید په پوره غسل سره ځانونه پاک کړئ، او که ناروغ یا مسافر یاست یا کوم تن له حاجت پوره کولو نه راستون شی یا ښځو ته نږدې شئ( او د اودس یا غسل لپاره ) اوبه پیدا نه شی، نو په پاکه خاوره تیمم وکړئ( په دې توګه چې په پاکه خاوره مو) مخونه او لاسونه مسحه کړئ. الله تعالی نه غواړی ( چې پخپلو احکامو سره) په تاسو ژوند تنګ کړی، بلکه غواړی چې تاسو( له کثافاتو نه) پاک کړی او خپل نعمتونه درباندې په پوره توګه ولوروی تر څو شکر کوونکی بندګان شئ.**

وَٱذۡكُرُواْ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ وَمِيثَٰقَهُ ٱلَّذِي وَاثَقَكُم بِهِۦٓ إِذۡ
قُلۡتُمۡ سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَاۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِذَاتِ
ٱلصُّدُورِ ٧

( ای مؤمنانو!) د الله تعالی نعمتونه( د ایمان او اسلام لوری ته هدایت او هر مادی او معنوی نعمت چې په تاسو يې لورولی) تل یاد ساتئ، او هغه عهد او تړون چې تاسو( د پیغمبر په لاس له الله پاک سره) کړی هم مه هیروئ چې ویلی مو وو: مونږ ستا حکم واورید او ( په هر ډول حالاتو او شرایطو کې به يې )اطاعت کوو. د الله تعالی له عذابه وویریږئ، بیشکه چې الله پاک حتی د زړونو په پټو رازونو هم ښه خبر دی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُونُواْ قَوَّٰمِينَ لِلَّهِ شُهَدَآءَ بِٱلْقِسْطِۖ وَلَا
يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَـَٔانُ قَوْمٍ عَلَىٰٓ أَلَّا تَعْدِلُواْۚ ٱعْدِلُواْ هُوَ
أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰۖ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرُۢ بِمَا
تَعْمَلُونَ ٨

ای مؤمنانو! ( د ژوند په ټولو چارو کې) د الله تعالی لپاره په صداقت او رښتینولی ودریږئ، او د کومې ډلی دښمنی باید تاسو دې ته اړ نه باسی چې له عدالت او انصاف نه لاس واخلئ، عدالت وکړئ ځکه چې تقوا ته ډیر نږدې دی، د الله تعالی (له عذابه) وویریږئ ځکه الله تعالی ستاسو په ټولو کړو وړو ډیر ښه خبر دی.

وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ
عَظِيمٌ ٩

الله تعالی له هغو کسانو سره چې ایمان راوړی او نیک عمله وی ، د بښنې او ستر اجر وعده کوی.

وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ
ٱلْجَحِيمِ ١٠

او هغه کسان چې د کفر لاره غوره کوی او زمونږ آیتونه دروغ ګڼی بی له شکه دوزخیان دی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱذْكُرُواْ نِعْمَتَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ هَمَّ
قَوْمٌ أَن يَبْسُطُوٓاْ إِلَيْكُمْ أَيْدِيَهُمْ فَكَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنكُمْۖ
وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ١١

**ای مؤمنانو! د الله تعالی هغه نعمت او احسان یاد ساتئ، کله چې( د بنی نضیر د یهودانو) یوې ډلې ستاسو( د پیغمبر او اصحابو) په ضد د ناوړه قصد او ( ناڅاپی حملې هڅه وکړه تر څو تاسو له یو ې مخې تباه کړی) خو الله تعالی د هغوی لاسونه ونیول( او د هغوی شر یې درنه دفع کړ). د الله تعالی( له عذابه) وویریږئ ( احسان یې مه هیروئ) او مؤمنان باید یوازې په الله تعالی توکل وکړی( ځکه د خیر رسولو او شر دفع کولو یوازینی قدرت ،همدا د الله تعالی مقتدر ذات دی).**

۞ وَلَقَدۡ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ وَبَعَثۡنَا مِنۡهُمُ
ٱثۡنَيۡ عَشَرَ نَقِيبٗاۖ وَقَالَ ٱللَّهُ إِنِّي مَعَكُمۡۖ لَئِنۡ أَقَمۡتُمُ
ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَيۡتُمُ ٱلزَّكَوٰةَ وَءَامَنتُم بِرُسُلِي وَعَزَّرۡتُمُوهُمۡ
وَأَقۡرَضۡتُمُ ٱللَّهَ قَرۡضًا حَسَنٗا لَّأُكَفِّرَنَّ عَنكُمۡ سَيِّـَٔاتِكُمۡ
وَلَأُدۡخِلَنَّكُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُۚ فَمَن كَفَرَ
بَعۡدَ ذَٰلِكَ مِنكُمۡ فَقَدۡ ضَلَّ سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ ١٢

**الله پاک له بنی اسرائیلو نه وعده واخسته او( په وعده باندی د وفا د ضمانت لپاره یې) له هغوی نه دولس تنه مشران وټاکل. الله تعالی ورته وفرمایل: بیشکه زه له تاسو سره یم ( او مرسته درسره کوم، په دې شرط چې) تاسو به(د ارکانو او قواعدو په اداء کولو سره) لمونځونه کوئ، (له خپلو شتمنیو څخه به مستحقینو ته) زکاتونه ورکوئ، زما په رسولانو به ایمان راوړئ او د هغوی احترام او ملاتړ به کوئ، او (په خیریه چارو او د دین د پرمختیا لپاره د انفاق او بې وزلو ته دخیرات او صدقاتو په توګه) به الله تعالی ته ( د زړه د اخلاصه) احسن قرض ورکوئ. او زه به (ستاسو د دغو نیکو اعمالو په مقابل کې) ستاسو ګناهونه درته وبښم او( د جنت) په هغو باغونو کې به مو هستوګن کړم چه ( د ونو او قصرونو) لاندې یې ( د الهی نعمتونو) رودونه روان دی. خو که له عهد نه وروسته بیا څوک کافران شول ( او په عهد یې پښې کیښودې) نو په حقیقت کې د هدایت له مستقیمی لارې وتلی او د ګمراهئ په کندو سر شوی دی.**

فَبِمَا نَقْضِهِم مِّيثَٰقَهُمْ لَعَنَّٰهُمْ وَجَعَلْنَا قُلُوبَهُمْ قَٰسِيَةً ۖ
يُحَرِّفُونَ ٱلْكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِۦ ۙ وَنَسُوا۟ حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوا۟
بِهِۦ ۚ وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلَىٰ خَآئِنَةٍ مِّنْهُمْ إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ ۖ فَٱعْفُ عَنْهُمْ
وَٱصْفَحْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٣﴾

**خو کله چې هغوی پخپلو تعهداتو پښې کیښودی او نقض یې کړل، نو مونږ هم ورټل (او د خپل رحمت له نعمت نه مو محروم کړل) زړونه مو ورله داسې سخت کړل( چې هیڅ دلیل او نصیحت نه اوری) تر دې چې الفاظ سرچپه کوی او معنا یې هم تحریفوی. د تورات د احکامو زیاته برخه، چې دوی ته ورکړی شوې، هیروی او هیڅ اعتنا ورته نه کوی. (اوس یې حال دادی چې) ته یې هره ورځ له یو نوی نوی خیانت نه خبریږې خو بیا هم لږ شمیر (پکې داسې شته چې په تا یې ایمان راوړی او خاینان نه دی)، نو دوی ( ټولو ته) ښښنه کوه او( په منافقانه اعمالو یې سترګې پټوه ځکه دا د نیکانو او محسنانو خصلت دی) او الله تعالی له نیکانو او احسان کوونکو سره مینه لری.**

وَمِنَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓا۟ إِنَّا نَصَٰرَىٰٓ أَخَذْنَا مِيثَٰقَهُمْ فَنَسُوا۟
حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوا۟ بِهِۦ فَأَغْرَيْنَا بَيْنَهُمُ ٱلْعَدَاوَةَ وَٱلْبَغْضَآءَ
إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ ۚ وَسَوْفَ يُنَبِّئُهُمُ ٱللَّهُ بِمَا كَانُوا۟
يَصْنَعُونَ ﴿١٤﴾

**او له هغو کسانو نه مو، چې ځان ته مسیحیان وایی، هم تعهد واخست( چې د انجیل په احکامو به عمل کوی ، د واحد او لاشریک خدای عبادت به کوی او محمد علیه السلام به د آخر زمان پیغمبر په حیث پیژنی) خو کله چې دوی هم د ورکړی شویو تعلیماتو زیاته برخه شاته وغورزوله او هیره یې کړه، مونږ هم مقابلتاً په دوی کې د کینې او دښمنۍ داسې اور بل کړ چې د قیامت تر ورځې به په غرغنډو وی او ( د مسیحیت مختلفې ډلې به یو بل ته کافر او ملعون وایی او پخپل منځ کې به سره نه پخلا کیدونکی دښمنان وی) الله تعالی به( د قیامت په ورځ) د دوی د دنیوی اعمالو نتایج ورته اعلان کړی.**

يَـٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ قَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمۡ
كَثِيرٗا مِّمَّا كُنتُمۡ تُخۡفُونَ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَيَعۡفُواْ
عَن كَثِيرٖۚ قَدۡ جَآءَكُم مِّنَ ٱللَّهِ نُورٞ وَكِتَٰبٞ
مُّبِينٞ ١٥

ای اهل کتابو! زمونږ پیغمبر محمد( صلی الله علیه وسلم) تاسو ته راغی تر څو د کتاب( تورات او انجیل ډیر
هغه حقایق تشریح کړی چې د آخر زمان پیغمبر د نبوت او قرآن د نزول بشارت هم پکی شامل وو) خو تاسو
پټ ساتلی وو. دغه راز به پیغمبر د ډیرو هغو احکامو له بیان نه صرف نظر وکړی چې اوس ورته اړتیا نشته.
د الله تعالی له لوری تاسو ته نور( اسلام) او روښانه کتاب( قرآن) دررسیدلی( چې ستاسو لپاره د هدایت ستره
وسیله ده).

يَهۡدِي بِهِ ٱللَّهُ مَنِ ٱتَّبَعَ رِضۡوَٰنَهُۥ سُبُلَ ٱلسَّلَٰمِ
وَيُخۡرِجُهُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ بِإِذۡنِهِۦ
وَيَهۡدِيهِمۡ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ١٦

الله تعالی د دې (کتاب او پیغمبر) په وسیله، هغه چاته چې د هغه رضا غواړی د نجات او هدایت لاره ورښایی او
په خپل حکم او فرمان سره یې( د کفر او جهل ) له تیارو نه ( د اسلام او ایمان) روښنایی ته راوباسی او د
مستقیمې لارې هدایت ورته کوی.

لَّقَدْ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓا۟ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْمَسِيحُ ٱبْنُ مَرْيَمَ ۚ
قُلْ فَمَن يَمْلِكُ مِنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا إِنْ أَرَادَ أَن يُهْلِكَ
ٱلْمَسِيحَ ٱبْنَ مَرْيَمَ وَأُمَّهُۥ وَمَن فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا ۗ
وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۚ يَخْلُقُ مَا
يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٧﴾

**بیشکه هغه کسان چې عیسی ابن مریم ته خدای وایی کافران دی.( ای پیغمبره) ورته ووایه: که الله تعالی د عیسی ابن مریم، د هغه د مور او د ځمکې د ټولو مخلوقاتو د هلاکت او تباهۍ اراده وکړی، څوک به یې مخه ونیسی؟ د آسمانونو او ځمکې او د هغو ترمنځ د ټولو موجوداتو او مخلوقاتو واکمنی یوازې د الله تعالی ده، څه ته یې چې اراده وشی پیداکوی یې او الله تعالی په هر کار برلاسی او د کامل قدرت لرونکی ذات دی.**

وَقَالَتِ ٱلْيَهُودُ وَٱلنَّصَٰرَىٰ نَحْنُ أَبْنَٰٓؤُا۟ ٱللَّهِ وَأَحِبَّٰٓؤُهُۥ ۚ قُلْ فَلِمَ
يُعَذِّبُكُم بِذُنُوبِكُم ۖ بَلْ أَنتُم بَشَرٌ مِّمَّنْ خَلَقَ ۚ يَغْفِرُ لِمَن يَشَآءُ
وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُ ۚ وَلِلَّهِ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۖ
وَإِلَيْهِ ٱلْمَصِيرُ ﴿١٨﴾

**یهودیا ن او مسیحیان وایی مونږ د الله زامن او عزیزان یو، ورته ووایه نو بیا ولې تاسو ته د ګناهونو په مقابل کې عذاب درکوی؟ بلکه حقیقت دا دی چې تاسو د نورو انسانانو په شان،( د الله تعالی) مخلوقات یاست، چا ته چې یې اراده وشی، ببښی یې او چې هر چا ته اراده وکړی عذاب ورکوی او د آسمانونو او ځمکې او د هغو تر منځ د ټول قلمرو سلطنت او ټولواکی یوازې د الله تعالی دی، او د ټولو بیر ته ورتګ هم د هغه په لور دی.**

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ قَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمۡ عَلَىٰ فَتۡرَةٖ مِّنَ ٱلرُّسُلِ
أَن تَقُولُواْ مَا جَآءَنَا مِنۢ بَشِيرٖ وَلَا نَذِيرٖۖ فَقَدۡ جَآءَكُم بَشِيرٞ وَنَذِيرٞۗ
وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ١٩

ای اهل کتابو ! د رسولانو د بعثت د اوږدې وقفې نه وروسته، زمونږ استازی( محمد صلی الله علیه وسلم) د حقایقو د بیانولو لپاره تاسو ته راغی، هسې نه چې بیا( د قیامت په ورځ) ووایئ چې مونږ ته کوم زیری راکوونکی او خبرداری راکوونکی( پیغمبر) نه دی راغلی( او نه چا مونږ ته د الله تعالی فرمان راوړی)، دا دی تاسو ته زیری درکوونکی او تنبیه کوونکی( پیغمبر) راغی چې ( د ایمان او نیکو اعمالو په مقابل کی درته د اجر اوثواب زیری درکوی او د کفر او مفاسدو په مقابل کی مو له الهی عذاب نه ویروی نو اوس تاسو ته هیڅ عذرپاتې نشو) او الله تعالی په ټولو چارو پیاوړی او قدرتمند ذات دی.

وَإِذۡ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوۡمِهِۦ يَٰقَوۡمِ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَةَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ
جَعَلَ فِيكُمۡ أَنۢبِيَآءَ وَجَعَلَكُم مُّلُوكٗا وَءَاتَىٰكُم مَّا لَمۡ يُؤۡتِ أَحَدٗا مِّنَ
ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢٠

او (هغه وخت یاد کړئ) چې موسی خپل قوم ته وویل: ای زما قومه! د الله تعالی هغه احسان یاد ساتی چې په تاسو کی یې پیغمبران مبعوث کړل او پادشاهی یې درکړه او( د روحانی او دنیوی اقتدار په شمول یې)هغه نعمتونه دربانديې ولورول چې بل هیچا ته یې نه وو ورکړی.

يَٰقَوۡمِ ٱدۡخُلُواْ ٱلۡأَرۡضَ ٱلۡمُقَدَّسَةَ ٱلَّتِي كَتَبَ ٱللَّهُ لَكُمۡ وَلَا تَرۡتَدُّواْ عَلَىٰٓ
أَدۡبَارِكُمۡ فَتَنقَلِبُواْ خَٰسِرِينَ ٢١

ای زما قومه ! ( د بیت المقدس) سپیڅلې ځمکې ته ننوځئ چې الله تعالی ستاسو د اوسیدو لپاره مقدر کړې( خو چې له جهاد فی سبیل الله نه) په شا نشئ، که نه د زیانمنو( ماتې خوړونکو) په حیث به بیرته راستانه شئ.

قَالُواْ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّ فِيهَا قَوۡمٗا جَبَّارِينَ وَإِنَّا لَن نَّدۡخُلَهَا حَتَّىٰ يَخۡرُجُواْ
مِنۡهَا فَإِن يَخۡرُجُواْ مِنۡهَا فَإِنَّا دَٰخِلُونَ ٢٢

هغوی وویل: ای موسی! په دغه ځمکه یو پیاوړی او جنګی قوم( عمالقه) مسلط دی، د هغوی په موجودیت کې مونږ هیڅکله نه داخلیږو، خو که هغوی ووځی نو مونږ به ورداخل شو.

قَالَ رَجُلَانِ مِنَ ٱلَّذِينَ يَخَافُونَ أَنْعَمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمَا ٱدْخُلُوا۟ عَلَيْهِمُ ٱلْبَابَ فَإِذَا دَخَلْتُمُوهُ فَإِنَّكُمْ غَٰلِبُونَ ۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَتَوَكَّلُوٓا۟ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٢٣﴾

دوو تنو پرهیزګارو( مشرانو) چې الله تعالی ورته ( دعقل، ایمان او میرانې) نعمت ورکړی و، وویل: که تاسو مؤمنان یاست( نو د هغوی په جنګی قیافو مه تیروځئ) په الله تعالی توکل وکړئ او د دروازې له لوری په ښار ناڅاپی حمله وروړئ، د ورداخلیدو سره سم( به هغوی مورال وبایلی او) تاسو به برلاسی او فاتحین یاست.

قَالُوا۟ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّا لَن نَّدْخُلَهَآ أَبَدًا مَّا دَامُوا۟ فِيهَا ۖ فَٱذْهَبْ أَنتَ وَرَبُّكَ فَقَٰتِلَآ إِنَّا هَٰهُنَا قَٰعِدُونَ ﴿٢٤﴾

دوی وویل:ای موسی! ترڅو چې دغه جنګی قوم(په مقدسه خاوره)مسلط وی مونږ به قدم هم وروانخلو، ته او رب دې لاړ شئ( او له دغو پیاوړو زورواکانو سره) وجنګیږئ، مونږ به دلته ناست یو( او ستاسو د جګړې ننداره به کوو).

قَالَ رَبِّ إِنِّى لَآ أَمْلِكُ إِلَّا نَفْسِى وَأَخِى ۖ فَٱفْرُقْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ ٱلْقَوْمِ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿٢٥﴾

( دغه وخت موسی، د الله تعالی دربار ته د دعا لاسونه پورته کړل او په پوره عاجزئ یې) وویل: ای زما ربه! زه یوازې د خپل ځان او خپل ورور، واک اختیار لرم، ته زمونږ او فاسق قوم تر منځ( په خپل الهی عدالت سره) فرق او تفکیک وکړه( او زمونږ حساب له هغوی نه جلا کړه.)

قَالَ فَإِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ عَلَيْهِمْ ۛ أَرْبَعِينَ سَنَةً ۛ يَتِيهُونَ فِى ٱلْأَرْضِ ۚ فَلَا تَأْسَ عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿٢٦﴾

الله تعالی موسی ته وویل: دوی به تر څلویښتو کالو پورې دغې (مقدسې) ځمکې ته ممنوع الدخول وی او د (سینا په وچه صحرا کې به سرګردانه ګرځی) نو ته په فاسق( او نافرمان) قوم باندې مه غمجن کیږه.

۞ وَٱتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَأَ ٱبۡنَيۡ ءَادَمَ بِٱلۡحَقِّ إِذۡ قَرَّبَا قُرۡبَانٗا فَتُقُبِّلَ مِنۡ
أَحَدِهِمَا وَلَمۡ يُتَقَبَّلۡ مِنَ ٱلۡأٓخَرِ قَالَ لَأَقۡتُلَنَّكَۖ قَالَ إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ ٱللَّهُ
مِنَ ٱلۡمُتَّقِينَ ٢٧

(ای پيغمبره! يهوديانو او نورو قومونو ته د ګناه د ناوړه انجام او د پرهيزګارۍ د نيک عاقبت د ورپيژندلو لپاره) د آدم د دوو زامنو( هابيل او قابيل له پند او عبرت نه ډک) ربښتينی داستان بيان کړه، کله چې دواړو ورونو خپل رب ته د تقرب لپاره قربانۍ وړاندې کړې، نو د ( هابيل) قرباني چې په اخلاص وه، ومنل شوه او د ( قابيل) هغه رد شوه.(قابيل د کينې او خود خواهۍ په جذباتو کې ورور ته ) وويل:خامخا دې وژنم. ( هابيل) ورته وويل:( زما ګناه څه ده؟) الله تعالی يوازې د پرهيزګارانو عمل قبلوی.

لَئِنۢ بَسَطتَ إِلَيَّ يَدَكَ لِتَقۡتُلَنِي مَآ أَنَا۠ بِبَاسِطٖ يَدِيَ إِلَيۡكَ لِأَقۡتُلَكَۖ إِنِّيٓ
أَخَافُ ٱللَّهَ رَبَّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢٨

که ته دې لاس زما د وژلو لپاره په ما رااوچت هم کړې، زه به د کائناتو د رب له ويری، ستا د وژلو هڅه و نه کړم.

إِنِّيٓ أُرِيدُ أَن تَبُوٓأَ بِإِثۡمِي وَإِثۡمِكَ فَتَكُونَ مِنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلنَّارِۚ وَذَٰلِكَ
جَزَٰٓؤُاْ ٱلظَّٰلِمِينَ ٢٩

ښه ده چې ته زما د قتل جرم، په خپلو تيرو ګناهونو ورزيات او په اوږو يې واخلی او د دوزخيانو په ډله کې ورشامل شی،همدغه ده د ظالمانو او تيری کوونکو( مناسبه او عادلانه) سزا.

فَطَوَّعَتۡ لَهُۥ نَفۡسُهُۥ قَتۡلَ أَخِيهِ فَقَتَلَهُۥ فَأَصۡبَحَ مِنَ
ٱلۡخَٰسِرِينَ ٣٠

(باغی او سرکش) نفس یې ورته د ورور قتل ډیر ښه او آسان وځلاوه، نو هغه یې وواژه او په دې ډول د زیانمنو کسانو په ډله کې وشمیرل شو( هم یې ایمان لاړ، هم یې ورور.)

فَبَعَثَ ٱللَّهُ غُرَابًا يَبْحَثُ فِي ٱلْأَرْضِ لِيُرِيَهُۥ كَيْفَ يُوَٰرِى سَوْءَةَ أَخِيهِ ۚ قَالَ يَٰوَيْلَتَىٰٓ أَعَجَزْتُ أَنْ أَكُونَ مِثْلَ هَٰذَا ٱلْغُرَابِ فَأُوَٰرِىَ سَوْءَةَ أَخِى ۖ فَأَصْبَحَ مِنَ ٱلنَّٰدِمِينَ ﴿٣١﴾

( بیا د خپل ورور د مړی تر څنګ حیران ولاړ و چې څه پرې وکړی؟) الله تعالی یو کارغه راولیږه( چې د بل وژل شوی کارغه د ښخولو لپاره یې) ځمکه کیندله او ده ته یې وښوده چې د ورور مړی باید څنګه ښخ کړی،( د کارغه د حرکاتو او کار په لیدلو یې د افسوس چیغه وکړه: ای زما بده بخته) دریغه چې د کارغه هومره پوهه خو مې لرلی چې د ورور مړی مې ښخولی شوی. نو پخپل عمل سخت پښیمانه شو.

مِنْ أَجْلِ ذَٰلِكَ كَتَبْنَا عَلَىٰ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ أَنَّهُۥ مَن قَتَلَ نَفْسًۢا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِى ٱلْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ ٱلنَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَآ أَحْيَا ٱلنَّاسَ جَمِيعًا ۚ وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُنَا بِٱلْبَيِّنَٰتِ ثُمَّ إِنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم بَعْدَ ذَٰلِكَ فِى ٱلْأَرْضِ لَمُسْرِفُونَ ﴿٣٢﴾

له همدې امله مو په بنی اسرائیلو لازمه کړه هرڅوک چې یو انسان په ناحقه، بې له دې چې قتل یې کړی وی او یا یې په ځمکه کې فساد کړی وی ووژنی، داسې دی لکه ټول انسانان یې چې وژلی وی، او څوک چې یو انسان ته له مرګه نجات ورکړی داسې دی لکه ټول انسانیت یې چې له مرګه ژغورلی وی( ځکه فرد د ټولنې نماینده او د انسانی ټولنې غړی دی)، او زمونږ پیغمبران له څرګندو معجزو او روښانه دلایلو سره هغوی ته راغلل خو زیاترو خلکو یې( د الله تعالی له احکامو سترګې پټې کړې) او د ځمکې په مخ یې( په قتلونو او جنایتونو کې) د اسراف لاره ونیوه.

إِنَّمَا جَزَٰٓؤُاْ ٱلَّذِينَ يُحَارِبُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَسۡعَوۡنَ فِي ٱلۡأَرۡضِ
فَسَادًا أَن يُقَتَّلُوٓاْ أَوۡ يُصَلَّبُوٓاْ أَوۡ تُقَطَّعَ أَيۡدِيهِمۡ
وَأَرۡجُلُهُم مِّنۡ خِلَٰفٍ أَوۡ يُنفَوۡاْ مِنَ ٱلۡأَرۡضِۚ ذَٰلِكَ لَهُمۡ
خِزۡيٞ فِي ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ٣٣

**هغه کسان چې( د اسلامی حکومت په خلاف بغاوت کوی او د شریعت په احکامو تیری کوی او په همدې توګه) له الله او رسول سره جنګیږی او په ځمکه کې فساد خپروی، سزا یې دا ده چې باید ووژل شی یا دې په دار وځړول شی، یا دې ترې لاس او پښه ادل بدل پرې شی، یا دې لرې تر لرې له هیواده تبعید او یا زندانی شی. دا په دنیا کې د دوی رسوایی او شرمندګی ده خو په آخرت کی یې عذاب او سزا لا لویه( او سخته) ده.**

إِلَّا ٱلَّذِينَ تَابُواْ مِن قَبۡلِ أَن تَقۡدِرُواْ عَلَيۡهِمۡۖ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ
غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٣٤

**خو که دغه ډول کسان، وړاندې له دې چې( د امنیتی چارواکو له خوا) ونیول شی، له خپلو کړو توبه وباسی او پښیمانه شی( د الله حق ورته ببښل کیږی) ځکه الله تعالی د زیات مغفرت او رحمت لرونکی ذات دی( البته حقوق العباد لا هم د توبه کوونکی په ذمه پاتې کیږی).**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱبۡتَغُوٓاْ إِلَيۡهِ ٱلۡوَسِيلَةَ
وَجَٰهِدُواْ فِي سَبِيلِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ٣٥

**ای مؤمنانو! له الله تعالی نه وویریږئ( د اوامرو اطاعت یې وکړئ او له نواهیو یې ځان وساتئ) او د هغه حضور ته د تقرب لپاره( د اطاعت، عبادت او نیکو اعمالو په شان غوره) وسیلې نه کار واخلئ،او د هغه په لاره کی جهاد وکړئ تر څو مو نیکمرغی او بریالیتوب په برخه شی.**

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لَوْ أَنَّ لَهُم مَّا فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا وَمِثْلَهُۥ
مَعَهُۥ لِيَفْتَدُواْ بِهِۦ مِنْ عَذَابِ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ مَا تُقُبِّلَ مِنْهُمْ ۖ وَلَهُمْ
عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٣٦﴾

**كه كافران د ځمكې ټوله شتمنی او هغومره نوره، د قيامت د ورځې له عذابه د خلاصون لپاره فديه وركړی، وبه نه منل شی( او د خلاصون لار به پيدا نه كړی بلكه) د دوی لپاره دردوونكی عذاب تيار شوی دی.**

يُرِيدُونَ أَن يَخْرُجُواْ مِنَ ٱلنَّارِ وَمَا هُم بِخَٰرِجِينَ مِنْهَا ۖ وَلَهُمْ
عَذَابٌ مُّقِيمٌ ﴿٣٧﴾

**دوی به غواړی چې له اوره ووځی خو وتلی به نشی، او په برخه يې دايمی عذاب دی.**

وَٱلسَّارِقُ وَٱلسَّارِقَةُ فَٱقْطَعُوٓاْ أَيْدِيَهُمَا جَزَآءًۢ بِمَا كَسَبَا نَكَٰلًا
مِّنَ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٣٨﴾

**د غله سړی او غلی ښځې لاس بايد پرې شی( په دې شرط چې جرم يې بيشكه او بې شبهې ثابت او د غلا وجه عمومی قحطی او فقر نه وی) دا د دوی د عمل سزا، او د الله تعالی له لوری ورته د پند او عبرت درس دی، او الله تعالی( پخپلو چارو او اقداماتو) برلاسی( او په خپلو قوانينو كې) د حكمت لرونكی ذات دی( او د هر جنايت لپاره مناسبه سزا ټاكی تر څو د جناياتو د تكرار مخه ونيول شی).**

فَمَن تَابَ مِنۢ بَعْدِ ظُلْمِهِۦ وَأَصْلَحَ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَتُوبُ عَلَيْهِ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ
غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٣٩﴾

خو څوک چې( د غلا) د ظالمانه عمل نه وروسته توبه وباسي او ځان اصلاح کړي( نیک عملونه وکړي او غلا شوی مال یا یې قیمت بیرته خپل مالک ته وسپاري) نو الله تعالی به یې توبه قبوله کړي، بیشکه چې الله تعالی ښښونکی او مهربان ذات دی.

أَلَمۡ تَعۡلَمۡ أَنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ يُعَذِّبُ مَن
يَشَآءُ وَيَغۡفِرُ لِمَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٤٠

آیا نه پوهیږې چې د آسمانونو او ځمکې سلطنت او واکمنی د الله تعالی دی، هر چاته چې وغواړی مناسبه سزا ورکوی او چاته چې وغواړی ښښنه ورته کوی او الله تعالی په هر کار کامل قدرت او صلاحیت لری.

۞ يَٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ لَا يَحۡزُنكَ ٱلَّذِينَ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡكُفۡرِ
مِنَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا بِأَفۡوَٰهِهِمۡ وَلَمۡ تُؤۡمِن قُلُوبُهُمۡۛ وَمِنَ
ٱلَّذِينَ هَادُواْۛ سَمَّٰعُونَ لِلۡكَذِبِ سَمَّٰعُونَ لِقَوۡمٍ
ءَاخَرِينَ لَمۡ يَأۡتُوكَۖ يُحَرِّفُونَ ٱلۡكَلِمَ مِنۢ بَعۡدِ مَوَاضِعِهِۦۖ يَقُولُونَ
إِنۡ أُوتِيتُمۡ هَٰذَا فَخُذُوهُ وَإِن لَّمۡ تُؤۡتَوۡهُ فَٱحۡذَرُواْۚ وَمَن يُرِدِ ٱللَّهُ
فِتۡنَتَهُۥ فَلَن تَمۡلِكَ لَهُۥ مِنَ ٱللَّهِ شَيۡـًٔاۚ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَمۡ
يُرِدِ ٱللَّهُ أَن يُطَهِّرَ قُلُوبَهُمۡۚ لَهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا خِزۡيٞۖ وَلَهُمۡ فِي
ٱلۡأٓخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٞ ٤١

ای پیغمبره! هغه کسان باید ستا د پریشانی سبب نشی چې تولې هلې ځلې یې د کفر پراختیا ته وقف کړی. په دوی کی یوه ډله په خوله وایی چې ایمان مو راوړی خو د زړه له کومې مؤمنان نه دی. بله ډله یې یهود دی

چې له  دروغو اوریدو سره ډیره مینه لری، او د هغو کسانو خبره اوری او اطاعت یې کوی چې ( د حسد او دښمنۍ په وجه لا تر اوسه) تاته نه دی راغلی. دوی د کتاب الله( تورات) کلمات له اصلی ځایه بل ځای ته اړوی رااړوی او  معناوی  یې هم  تحریفوی. خلکو ته وایی چې که ستاسو د خواهشاتو سره سم احکام درکړی شو ویې منی، که نه رد یې کړی. ( ای پیغمبره!) چا ته چې الله تعالی ذلت او خواری لیکلی وی، ته یې له مؤاخذې او عذابه نشې خلاصولی. دا هغه کسان دی چې الله تعالی یې د زړونو د پاکولو اراده نه ده کړې، دوی په دنیا کی د رسوایی او په آخرت کې د سخت عذاب مستحق دی.

سَمَّٰعُونَ لِلۡكَذِبِ أَكَّٰلُونَ لِلسُّحۡتِۚ فَإِن جَآءُوكَ فَٱحۡكُم بَيۡنَهُمۡ أَوۡ أَعۡرِضۡ عَنۡهُمۡۖ وَإِن تُعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ فَلَن يَضُرُّوكَ شَيۡـٔٗاۖ وَإِنۡ حَكَمۡتَ فَٱحۡكُم بَيۡنَهُم بِٱلۡقِسۡطِۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُقۡسِطِينَ ﴿٤٢﴾

هغوی (ښه د زړه په مینه) دروغ اوری او منی یې، او بې دریغه حرام خواره دی. نو (که د کومی مسألې د حل و فصل لپاره) تاته راشی، ستا خوښه چې ترمنځ یې فیصله کوې او که نه. او که مخ ترې وګرځوې نو هم  تاته کوم زیان نشی رسولی. خو که تر منځ یې قضاوت کوې نو عدالت او انصاف خامخا په نظر کی نیسه، ځکه  الله تعالی له انصاف کوونکو سره مینه لری.

وَكَيۡفَ يُحَكِّمُونَكَ وَعِندَهُمُ ٱلتَّوۡرَىٰةُ فِيهَا حُكۡمُ ٱللَّهِ ثُمَّ يَتَوَلَّوۡنَ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَۚ وَمَآ أُوْلَـٰٓئِكَ بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿٤٣﴾

(عجیبه ده) څنګه تاته د فیصلې لپاره راځی، له دوی سره خو تورات شته چې په هغه کی( د زنا د سزا په باب) د الله حکم  بیان شوی دی.نو کله چې ته د تورات د احکامو له مخې، دوی ته فیصله واوروې، د اعتراض په توګه ستا له حکم نه مخ وګرځوی ( ځکه دغه فیصله د دوی د خواهشاتو سره په ټکر کی ده)حقیقت دا دی چې دوی( په تورات هم )ایمان نه لری.

إِنَّآ أَنزَلۡنَا ٱلتَّوۡرَىٰةَ فِيهَا هُدٗى وَنُورٞۚ يَحۡكُمُ بِهَا ٱلنَّبِيُّونَ ٱلَّذِينَ
أَسۡلَمُواْ لِلَّذِينَ هَادُواْ وَٱلرَّبَّٰنِيُّونَ وَٱلۡأَحۡبَارُ بِمَا ٱسۡتُحۡفِظُواْ
مِن كِتَٰبِ ٱللَّهِ وَكَانُواْ عَلَيۡهِ شُهَدَآءَۚ فَلَا تَخۡشَوُاْ ٱلنَّاسَ
وَٱخۡشَوۡنِ وَلَا تَشۡتَرُواْ بِـَٔايَٰتِي ثَمَنٗا قَلِيلٗاۚ وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ
أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ ٤٤

بیشکه چې مونږ تورات (موسی علیه السلام) ته نازل کړ چې نور دی او هدایت. هغه پیغمبران چې( د عیسی علیه السلام تر زماني پورې تورات) ته تسلیم وو، د هغه د احکامو په اساس به یې د یهودیانو تر منځ دعوې فیصله کولې او( دغه راز) رب پالونکو فقهاو او عالمانو چې د کتاب الله د حفاظت وظیفه ورسپارل شوې وه( او د تورات په حقانیت) ګواه وو، د دغه کتاب په اساس به یې فیصلې کولې.( نو ای یهودی علماو او مشرانو) له خلکو مه ویریږئ او له ما وویریږئ او زما په آیتونو پیسې مه اخلئ. او هغه کسان چې د الله تعالی په نازل کړی قانون فیصله نه کوی، کافران دی.

وَكَتَبۡنَا عَلَيۡهِمۡ فِيهَآ أَنَّ ٱلنَّفۡسَ بِٱلنَّفۡسِ وَٱلۡعَيۡنَ بِٱلۡعَيۡنِ
وَٱلۡأَنفَ بِٱلۡأَنفِ وَٱلۡأُذُنَ بِٱلۡأُذُنِ وَٱلسِّنَّ بِٱلسِّنِّ وَٱلۡجُرُوحَ
قِصَاصٞۚ فَمَن تَصَدَّقَ بِهِۦ فَهُوَ كَفَّارَةٞ لَّهُۥۚ وَمَن لَّمۡ
يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ٤٥

او مونږ په تورات کې، په بنی اسرائیلو دا فرض کړی وو، چې( د قصاص په قانون کې) نفس د نفس په بدل کې، سترګه د سترګې په بدل کې، پزه د پزې په بدل کې، غوږ د غوږ په بدل کې، غاښ د غاښ په بدل کې او د ټولو زخمونو بدله برابره ده. او څوک چې له قصاص نه تیر شه نو دغه تیریدنه یې( د ګناهونو لپاره) کفاره حسابیږی.او هغه کسان چې د الله تعالی په نازل کړی قانون فیصله نه کوی، ظالمان دی.

وَقَفَّيۡنَا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم بِعِيسَى ٱبۡنِ مَرۡيَمَ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ مِنَ ٱلتَّوۡرَىٰةِۖ
وَءَاتَيۡنَٰهُ ٱلۡإِنجِيلَ فِيهِ هُدٗى وَنُورٞ وَمُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ مِنَ ٱلتَّوۡرَىٰةِ
وَهُدٗى وَمَوۡعِظَةٗ لِّلۡمُتَّقِينَ ٤٦

**او د  پخوانیو پیغمبرانو په تعقیب مو، عیسی ابن مریم د پیغمبر په حیث واستاوه چې پخوانی کتاب (تورات) یې رښتونی ګڼه، او هغه ته مو د هدایت او نور نه ډک کتاب انجیل ورکړ چې هغه هم  د وړاندینی کتاب تورات تصدیق کوونکی او د پرهیزګارانو لپاره هدایت او پند و.**

وَلۡيَحۡكُمۡ أَهۡلُ ٱلۡإِنجِيلِ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فِيهِۚ وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ
ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ٤٧

**او( د عیسی علیه السلام د نبوت په عصر کې مو امر وکړ چې) د انجیل پیروان باید د هغو احکامو مطابق قضاوت او فیصله وکړی چې الله تعالی ورته په همدغه کتاب کې نازل کړی دی، او څوک چې د الله د نازل کړی قانون په اساس فیصله نه کوی، فاسقان دی.**

وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ مِنَ
ٱلۡكِتَٰبِ وَمُهَيۡمِنًا عَلَيۡهِۖ فَٱحۡكُم بَيۡنَهُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُۖ وَلَا
تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَهُمۡ عَمَّا جَآءَكَ مِنَ ٱلۡحَقِّۚ لِكُلّٖ جَعَلۡنَا مِنكُمۡ شِرۡعَةٗ
وَمِنۡهَاجٗاۚ وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَعَلَكُمۡ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ وَلَٰكِن لِّيَبۡلُوَكُمۡ فِي
مَآ ءَاتَىٰكُمۡۖ فَٱسۡتَبِقُواْ ٱلۡخَيۡرَٰتِۚ إِلَى ٱللَّهِ مَرۡجِعُكُمۡ جَمِيعٗا
فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ فِيهِ تَخۡتَلِفُونَ ٤٨

**مونږ دا کتاب( قرآن) تاته په حقه نازل کړی چې د تیرو آسمانی کتابونو تصدیق کوونکی او د هغو مراقب او ساتونکی دی، نو د اهل کتابو تر منځ هم د هغو احکامو په اساس چې تا ته په قرآن کې راغلی فیصله وکړه او (د قضاوت په وخت کې) د هغوی د هوسونو او خواهشاتو د پوره کولو لپاره، له حق نه چې تاته راغلی، انحراف مه کوه. ( ای خلکو!) ستاسو د هر ملت لپاره جلا جلا شریعت او روښانه لار ټاکل شوې، او که الله تعالی غوښتی نو تاسو ټول به یې یو امت جوړ کړی وی، خو غواړی په خپلو نازل کړو احکامو تاسو وازمایی، نو د نیکو اعمالو په سرته رسولو(د الله تعالی د احکامو په تطبیق کې)له یو بل سره سیالی وکړئ( اوباور ولرئ) چې تاسو بیرته د الله تعالی حضور ته ور ګرځئ او هلته به د خپل منځی اختلافاتو په باب خبرشئ ( چې څوک په حقه دی او څوک په ناحقه).**

وَأَنِ ٱحۡكُم بَيۡنَهُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَهُمۡ وَٱحۡذَرۡهُمۡ أَن
يَفۡتِنُوكَ عَنۢ بَعۡضِ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ إِلَيۡكَۖ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَٱعۡلَمۡ أَنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ أَن
يُصِيبَهُم بِبَعۡضِ ذُنُوبِهِمۡۗ وَإِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلنَّاسِ لَفَٰسِقُونَ ﴿٤٩﴾

**او( ای پیغمبره) د هغو احکامو سره سم چې تاته نازل شوی، د هغوی ترمنځ فیصله کوه او په هوسونو او ارزوګانو پسې یې سر، مه ګرځوه، او هوښیار اوسه هسې نه چې د الله تعالی له حقه احکامو دې منحرف کړی نو( که ستا له حکیمانه قضاوت نه یې) سرکشی وکړه، پوه شه چې الله تعالی غواړی، دوی ته د ځینو ګناهونو په مقابل کې جزا ورکړې، بیشکه چې زیاتره کسان( له شرعی احکامو نه سرکشی کوی او) فاسقان دی.**

أَفَحُكۡمَ ٱلۡجَٰهِلِيَّةِ يَبۡغُونَۚ وَمَنۡ أَحۡسَنُ مِنَ ٱللَّهِ حُكۡمٗا لِّقَوۡمٖ يُوقِنُونَ ﴿٥٠﴾

**( دغه کسان چې د الله تعالی حکم او ستا حکیمانه قضاوت نه منی، نو) آیا د جاهلیت حکم غواړی( چې د دوی د هوا او هوس مطابق پکې فیصله وشی؟)، او د راسخې عقیدې او یقین لرونکو خلکو لپاره د الله تعالی له حکم نه غیر، بهتر او غوره حکم، بل کوم یو دی؟( بلکه همدا د الله حکم ورته تر ټولو غوره دی).**

۞ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ ٱلۡيَهُودَ وَٱلنَّصَٰرَىٰٓ أَوۡلِيَآءَۘ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ
بَعۡضٖۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمۡ فَإِنَّهُۥ مِنۡهُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥١﴾

**ای مؤمنانو! تاسو( هغه) یهودیان او مسیحیان د خپلو اولیاو او سرپرستانو په حیث مه ټاکئ، چې( د مسلمانانو د ځپلو او ماتولو لپاره) یې سره لاسونه یو کړی، او که ستاسو له ډلې، څوک له هغوی سره( د اسلام او مسلمانانو په ضد صمیمانه) دوستی کوی، نو دوی هم د هغوی په ډله کې شمیرل کیږی او شک نشته چې الله تعالی(دغه ډول) ظالمان د هدایت په لاره نه برابروی .**

فَتَرَى ٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ يُسَٰرِعُونَ فِيهِمۡ يَقُولُونَ نَخۡشَىٰٓ أَن
تُصِيبَنَا دَآئِرَةٞۚ فَعَسَى ٱللَّهُ أَن يَأۡتِىَ بِٱلۡفَتۡحِ أَوۡ أَمۡرٖ مِّنۡ عِندِهِۦ فَيُصۡبِحُواْ عَلَىٰ
مَآ أَسَرُّواْ فِىٓ أَنفُسِهِمۡ نَٰدِمِينَ ﴿٥٢﴾

ته هغه کسان وینی چې (د شک او نفاق) ناروغی یې په زړونو ننوتی او ( له یهودیانو او مسیحیانو) سره په دوستی کې له یو بل نه وړاندې کیږی او وایی: ویریږو چې په کوم غم او مصیبت به اخته( او د دوی مرستې ته به اړ شو ). زر ده چې الله تعالی به تاسې ته( د مکې په فتح کولو سره) قاطع برلاسی در په برخه کړی او یا به بل کوم داسې اقدام وکړی چې دغه کسان به پخپلو زړونو کې( پخپلو کړو) پښیمانه شی.

وَيَقُولُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَهَٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ أَقۡسَمُواْ بِٱللَّهِ جَهۡدَ أَيۡمَٰنِهِمۡ إِنَّهُمۡ
لَمَعَكُمۡۚ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ فَأَصۡبَحُواْ خَٰسِرِينَ ﴿٥٣﴾

( فاتح او برلاسی مؤمنان به( پخپل منځ کې سره) ووایی: آیا دا هماغه کسان دی چې په الله تعالی به یې سخت قسمونه خوړل چې مونږ له مسلمانانو سره ملګری یو( خو اوس ښکاره شوه چې دروغ یې ویل او اصلی دوستان او سرپرستان یې یهودیان او مسیحیان وو) او له همدې امله یې تولې کړنې ضایع او پخپله ناکام او نامراده پاتې شول( هم یې ایمان ضایع شو او هم یې مؤمنان له لاسه ورکړل).

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَن يَرۡتَدَّ مِنكُمۡ عَن دِينِهِۦ فَسَوۡفَ يَأۡتِى ٱللَّهُ بِقَوۡمٖ يُحِبُّهُمۡ
وَيُحِبُّونَهُۥٓ أَذِلَّةٍ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ يُجَٰهِدُونَ فِى سَبِيلِ
ٱللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوۡمَةَ لَآئِمٖۚ ذَٰلِكَ فَضۡلُ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ
عَلِيمٌ ﴿٥٤﴾

ای مؤمنانو! له تاسو چې هر څوک له خپل دین نه مرتد شی( الله او اسلام ته یې کوم زیان نه رسی) بلکه الله تعالی به نور داسې خلک راولی چې خوښ به یې وی او هغوی به هم له الله تعالی سره د زړه مینه ولری. د الله تعالی د دین د پرمختګ لپاره به هلې ځلې کوی او د هیڅ ملامتوونکی له ملامتیا او ګواښ نه به نه ویریږی. دا د الله تعالی خاص فضل او مرحمت دی چا ته چې یې خوښه شی ور په برخه کوی یې. الله تعالی( د ژوندانه د تولو آسانتیاو) برابروونکی او په هر څه پوه ذات دی.

إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱلَّذِينَ يُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ
وَهُمۡ رَٰكِعُونَ ﴿٥٥﴾

ستاسو واقعی دوست او سرپرست خو يخپله الله تعالی دی، پيغمبر دی او هغه مؤمنان دی چې په خشوع او خضوع لمونځونه کوی او زکاتونه ورکوی.

وَمَن يَتَوَلَّ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فَإِنَّ حِزۡبَ ٱللَّهِ هُمُ ٱلۡغَٰلِبُونَ ﴿٥٦﴾

او څوک چې الله تعالی، پيغمبر او مؤمنان د دوستئ او سرپرستئ لپاره غوره کړی( نو په حزب الله کې شامل ګڼل کيږی) او بيشکه چې حزب الله( په هر زمان او هر مکان کې) برلاسی دی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ دِينَكُمۡ هُزُوٗا وَلَعِبٗا مِّنَ ٱلَّذِينَ
أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِكُمۡ وَٱلۡكُفَّارَ أَوۡلِيَآءَۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿٥٧﴾

ای مؤمنانو! د اهل کتابو او کفارو له هغو کسانو سره دوستی مه کوئ چې ستاسو په دين ملنډې او مسخرې کوی. که تاسو مخلص مؤمنان يئ نو له الله تعالی نه وويريږئ( او د خپل الهی قانون له دښمنانو سره له صميمانه ملګرتيا او دوستئ، ډډه وکړئ).

وَإِذَا نَادَيۡتُمۡ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ ٱتَّخَذُوهَا هُزُوٗا وَلَعِبٗاۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَوۡمٞ لَّا
يَعۡقِلُونَ ﴿٥٨﴾

کله چې تاسو( آذان کوئ او خلک) لمانځه ته رابلئ نو دوی يې لوبې بولی او وربانډی ملنډې او مسخرې کوی،ځکه چې پوهه او عقل ورسره نشته ( د لمانځه په حکمت او ګټه نه پوهيږی او د هدايت او ګمراهی ترمنځ فرق او تفکيک هم نشی کولی).

قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ هَلۡ تَنقِمُونَ مِنَّآ إِلَّآ أَنۡ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡنَا وَمَآ
أُنزِلَ مِن قَبۡلُ وَأَنَّ أَكۡثَرَكُمۡ فَٰسِقُونَ ﴿٥٩﴾

ورته ووايه: ای اهل کتابو! آيا صرف له دې امله په مونږ نيوکې کوئ چې مونږ په الله او هغو لاربښوونو ايمان راوړی چې مونږ ته نازل شوی او له مونږ نه پخوا نازل شوی( او د نيوکو او اعتراض بل لامل مو دا دی چې) ستاسو زياتره کسان فاسقان او بې لارې دی.

قُلْ هَلْ أُنَبِّئُكُم بِشَرٍّ مِّن ذَٰلِكَ مَثُوبَةً عِندَ ٱللَّهِ ۚ مَن لَّعَنَهُ ٱللَّهُ وَغَضِبَ عَلَيْهِ
وَجَعَلَ مِنْهُمُ ٱلْقِرَدَةَ وَٱلْخَنَازِيرَ وَعَبَدَ ٱلطَّٰغُوتَ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَأَضَلُّ
عَن سَوَآءِ ٱلسَّبِيلِ ﴿٦٠﴾

بیا ورته ووایه: آیا( ستاسو د ځینو اسلافو په شمول) درته ټول هغه کسان دروپیژنم چې د الله په نزد یې عاقبت او انجام له فاسقانو هم بدتر دی، الله تعالی پرې لعنت او غضب نازل کړی، او ځینی یې چې د طاغوت بندګی یې کوله، د بیزوګانو او خنزیرانو په شکل مسخ شول. د دوی حیثیت او مرتبه ډیره ټیټه ده او(د هدایت او عدالت)لاره ترې بیخی ورکه ده.

وَإِذَا جَآءُوكُمْ قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا وَقَد دَّخَلُوا۟ بِٱلْكُفْرِ وَهُمْ قَدْ خَرَجُوا۟ بِهِۦ ۚ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ
بِمَا كَانُوا۟ يَكْتُمُونَ ﴿٦١﴾

کله چې ( دغه منافقان) تاسو ته راشی وایی: ایمان مو راوړی په داسې حال کې چې له کفر سره درته راغلی او له کفر سره بیرته وتلی دی او الله تعالی د دوی په پټ او قلبی کفر ډیر ښه پوهیږی.

وَتَرَىٰ كَثِيرًا مِّنْهُمْ يُسَٰرِعُونَ فِى ٱلْإِثْمِ وَٱلْعُدْوَٰنِ وَأَكْلِهِمُ ٱلسُّحْتَ ۚ
لَبِئْسَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٦٢﴾

زیاترو ته به یې ګورې چې په ګناهونو، د الهی حدودو په ماتولو او حرام خورۍ کې له یو بل نه وړاندې کیږی، څه بد او ناوړه اعمال دی چې دوی پکی تر ستونی ډوب دی.

لَوْلَا يَنْهَىٰهُمُ ٱلرَّبَّٰنِيُّونَ وَٱلْأَحْبَارُ عَن قَوْلِهِمُ ٱلْإِثْمَ وَأَكْلِهِمُ ٱلسُّحْتَ ۚ
لَبِئْسَ مَا كَانُوا۟ يَصْنَعُونَ ﴿٦٣﴾

په( یهودی) علماو او (مسیحی) مشرانو او راهبانو څه ټکه راپریوتې چې ( د خپلو پیروانو د دغو ناوړ اعمالو په مقابل کی چوپه خوله پاتې دی) او له ګناهونو ډکو خبرو او حرام خورۍ څخه یې نه راګرځوی؟ څه ناوړه اعمال دی چې دوی پرې اخته دی( او څه بد سکوت دی چې د دوی د علماو شونډی یې ور ګنډلی دی)؟

وَقَالَتِ ٱلۡيَهُودُ يَدُ ٱللَّهِ مَغۡلُولَةٌۚ غُلَّتۡ أَيۡدِيهِمۡ وَلُعِنُواْ بِمَا قَالُواْۘ بَلۡ يَدَاهُ
مَبۡسُوطَتَانِ يُنفِقُ كَيۡفَ يَشَآءُۚ وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرٗا مِّنۡهُم مَّآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن
رَّبِّكَ طُغۡيَٰنٗا وَكُفۡرٗاۚ وَأَلۡقَيۡنَا بَيۡنَهُمُ ٱلۡعَدَٰوَةَ وَٱلۡبَغۡضَآءَ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ كُلَّمَآ
أَوۡقَدُواْ نَارٗا لِّلۡحَرۡبِ أَطۡفَأَهَا ٱللَّهُۚ وَيَسۡعَوۡنَ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَسَادٗاۚ وَٱللَّهُ لَا
يُحِبُّ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ٦٤

يهوديان وايي: د الله لاس تړلی دی( زمونږ سره بخل کوی) تل دی وی تړلی د دوی لاسونه، او لعنت دی وی په دوی، په دغه وینا سره. بلکه د الله تعالی( د سخاوت) لاسونه کاملاً آزاد دی (او څنګه چې وغواړی په خلکو باندې خپل فضل او نعمت لوروی). کوم کلام چې ستا د رب له لوری تاته نازلیږی، د زیاترو یهودیانو او مسیحیانو د کفر او طغیان پاره ورسره پورته ځی،( او مونږ هم په مقابل کې) دوی په داسې خپل منځی نه پخلا کیدونکی دښمنی او کینه اخته کوو چې تر قیامته به سره جوړ رانشی( د دوی تر منځ موقتی اتفاق او دوستانه معاهدې یوازی نمایشی او ظاهری پدیده ده). کله چې دوی( د اسلام او پیغمبر په خلاف) د جګړې اور بل کړی، الله تعالی یې بیرته مړ کړی( او د دوی لښکری او نظامی تجهیزات ټول تالا ترغی کړی). دوی تل په ځمکه کی د فساد د خپریدو هلې ځلې کوی( او لوی هدف یې د اسلام او مسلمانانو بربادی ده) او الله تعالی هیڅکله د مفسدینو ملاتړ نه کوی.

وَلَوۡ أَنَّ أَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ ءَامَنُواْ وَٱتَّقَوۡاْ لَكَفَّرۡنَا عَنۡهُمۡ
سَيِّـَٔاتِهِمۡ وَلَأَدۡخَلۡنَٰهُمۡ جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ٦٥

او که اهل کتاب( یهودیان او مسیحیان) په اسلام مشرف شوی وی او د پرهیزګاری لاره یې خپله کړی وی، بې له شکه چې مونږ به یې هم تیر ګناهونه وربښلی او په نعمتونو معمورو جنتونو کی به مو هستوګن کړی وی.

وَلَوْ أَنَّهُمْ أَقَامُوا۟ ٱلتَّوْرَىٰةَ وَٱلْإِنجِيلَ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِم مِّن رَّبِّهِمْ
لَأَكَلُوا۟ مِن فَوْقِهِمْ وَمِن تَحْتِ أَرْجُلِهِم ۚ مِّنْهُمْ أُمَّةٌ مُّقْتَصِدَةٌ ۖ وَكَثِيرٌ
مِّنْهُمْ سَآءَ مَا يَعْمَلُونَ ﴿٦٦﴾

**او که دوی اصلی تورات او انجیل او هغه آیتونه او احکام چې الله تعالی ورته د ( قرآن) په نوم نازل کړی عملی کړی( او الهی احکام يې د ژوندانه په ټولو چارو کې تطبيق کړی وی) نو د آسمان او ځمکې برکتونه به يې په برخه شوی وو.( ټول اهل کتاب يو شان نه دی) په دوی کې څه معتدل کسان هم شته خو زياتره يې بد عمله دی.**

۞ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ بَلِّغْ مَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ ۖ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا
بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُۥ ۚ وَٱللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ ٱلنَّاسِ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ
ٱلْكَـٰفِرِينَ ﴿٦٧﴾

**ای پيغمبره! هغه احکام چې تاته ستا د رب له لوری نازليږی( په پوره جرأت او بې له ويرې ټکی په ټکی) خلکو ته ابلاغ کړه، که نه، د الله تعالی د پيغام رسولو مکلفيت به دې نيمګړی پاتې وی. (مطمئن اوسه چې) الله تعالی تا، د خلکو له احتمالی شر او ضرر نه ساتی. الله پاک هيڅکله ( هغه) کافران د هدايت په لاره نه وربرابروی( چې تاته د ضرر رسولو په فکر کی دی او ستا نه غواړی چې د هغوی د خواهشاتو سره سم احکام ورته بيان کړې).**

قُلْ يَـٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَـٰبِ لَسْتُمْ عَلَىٰ شَىْءٍ حَتَّىٰ تُقِيمُوا۟ ٱلتَّوْرَىٰةَ
وَٱلْإِنجِيلَ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ ۗ وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم مَّآ
أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ طُغْيَـٰنًا وَكُفْرًا ۖ فَلَا تَأْسَ عَلَى ٱلْقَوْمِ
ٱلْكَـٰفِرِينَ ﴿٦٨﴾

ورته ووایه ای اهل کتابو! تاسو به تر هغه په حقه و نه شمیرل شی چې تر څو تورات او انجیل او د الله تعالی نور نازل شوی آیتونه او احکام( چې د مبارک قرآن په نوم) تاسو ته نازل شوی عملاً تطبیق نه کړی. ( خو ای پیغمبره!) هغه احکام او آیتونه چې تا ته نازلیږی، د دوی د زیاترو کسانو سرکشی او کفر هم ورسره زیاتیږی( خو ته په پوره اطمینان سره خپل رسالت سرته رسوه) او د کافرانو( په ایمان نه راوړلو) مه خواشینی کیږه.

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَٱلَّذِينَ هَادُواْ وَٱلصَّٰبِـُٔونَ وَٱلنَّصَٰرَىٰ مَنْ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْأَخِرِ وَعَمِلَ صَٰلِحًا فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٦٩﴾

بې له شکه، که څوک مسلمانان دی، که یهودیان دی که صابئین( د لمر او ستورو پرستش کوونکی) دی او که مسیحیان دی( د هر پیغمبر په زمانه کې چې یې ژوند کړی او د هغه پیروان وی) او د الله تعالی او د آخرت د ورځې په حقانیت یې ایمان راوړی وی او ورسره نیک عمله هم وی،( د قیامت په ورځ به) ورباندی نه کومه ویره او ترهه وی او نه کوم غم او پریشانی.

لَقَدْ أَخَذْنَا مِيثَٰقَ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ وَأَرْسَلْنَآ إِلَيْهِمْ رُسُلًا ۖ كُلَّمَا جَآءَهُمْ رَسُولٌۢ بِمَا لَا تَهْوَىٰٓ أَنفُسُهُمْ فَرِيقًا كَذَّبُواْ وَفَرِيقًا يَقْتُلُونَ ﴿٧٠﴾

مونږ له بنی اسرائیلو نه ( د الله تعالی د اطاعت او د تورات د احکامو د تطبیق) تعهد واخست، او بیا مو( د تبلیغ لپاره) پیغمبران هم وروواستول خو کله چې به پیغمبر ورته داسې احکام او قوانین واورول چې د دوی له هوس او خواهش سره به په ټکر کې وو، نو( په خپلو تعهداتو به یې پښې کیښودې) پیغمبران به یې دروغ وګڼل او حتی ځینې به یې ووژل.

وَحَسِبُوٓاْ أَلَّا تَكُونَ فِتْنَةٌ فَعَمُواْ وَصَمُّواْ ثُمَّ تَابَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ ثُمَّ عَمُواْ وَصَمُّواْ كَثِيرٌ مِّنْهُمْ ۚ وَٱللَّهُ بَصِيرٌۢ بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿٧١﴾

او داسې یې انګیرل چې له هیڅ ازمیښت سره به مخامخ نشی( او نه به ورته د انبیاو د تکذیب او وژلو له امله کومه سزا ورکړی شی) ځکه خو ړانده شول( چې واقعیتونه یې نه لیدل او نه یې له خپل تیر تاریخ نه درس اخیست) او کاڼه شول( چې د انبیاو ویناوې یې نه اوریدې نو الله تعالی په مصیبتونو اخته کړل او د بخت نصر لښکرې یې ورباندې مسلط کړې چې سخت یې وځپل، خو بیا چې له خپلو اعمالو پښیمانه شول او د حقایقو په درک کولو سره یې توبه وویسته) نو الله تعالی یې توبه قبوله کړه( او د عزت او کرامت مقام یې ورکړ) خو وروسته بیا ( د حق له لیدو او اوریدو) ړانده کاڼه شول او زیاترو یې( د محمد علیه السلام له نبوت نه انکار وکړ) او الله تعالی د دوی په کړو وړو ډیر ښه خبر دی.

لَقَدْ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْمَسِيحُ ٱبْنُ مَرْيَمَ ۖ وَقَالَ
ٱلْمَسِيحُ يَٰبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱعْبُدُواْ ٱللَّهَ رَبِّى وَرَبَّكُمْ ۖ إِنَّهُۥ مَن يُشْرِكْ
بِٱللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِ ٱلْجَنَّةَ وَمَأْوَىٰهُ ٱلنَّارُ ۖ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنْ
أَنصَارٍ ﴿٧٢﴾

په یقینی توګه هغه کسان کافران ګڼل کیږی چې ادعا کوی الله همدا عیسی ابن مریم دی، په داسې حال کې چې عیسی پخپله ویل: ای بنی اسرائیلو! د هغه واحد الله عبادت وکړی چې هم زما رب دی او هم ستاسو رب دی. بیشکه څوک چې له الله تعالی سره شریک وټاکی، الله تعالی به ورباندې جنت حرام کړی او ابدی هستوګنځی یې دوزخ دی او د داسې ظالمانو لپاره هیڅ مرستندوی او ملاتړی نشته.

لَّقَدْ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ ثَالِثُ ثَلَٰثَةٍ ۘ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ
إِلَّآ إِلَٰهٌ وَٰحِدٌ ۚ وَإِن لَّمْ يَنتَهُواْ عَمَّا يَقُولُونَ لَيَمَسَّنَّ ٱلَّذِينَ
كَفَرُواْ مِنْهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٧٣﴾

هغه کسان هم بې له شکه کافران دی چې وایی الله دریم له دریو خدایانو دی، په داسې حال کې چې د الله تعالی نه غیر بل هیڅ خدای او د پرستش مرجع نشته. که دغه خلک له خپلو باطلو عقایدو لاس وانخلی نو کافرانو ته به یې دردناک عذاب ورکړی شی.

أَفَلَا يَتُوبُونَ إِلَى ٱللَّهِ وَيَسۡتَغۡفِرُونَهُۥۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ
رَّحِيمٞ ٧٤

**آیا دوی الله تعالی ته رجوع نه کوی او د خپلو ګناهونو بښنه ترې نه غواړی، حال دا چې الله تعالی ډیر بښونکی او د زیات رحمت لرونکی ذات دی.**

مَّا ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ مَرۡيَمَ إِلَّا رَسُولٞ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهِ
ٱلرُّسُلُ وَأُمُّهُۥ صِدِّيقَةٞۖ كَانَا يَأۡكُلَانِ ٱلطَّعَامَۗ ٱنظُرۡ
كَيۡفَ نُبَيِّنُ لَهُمُ ٱلۡأٓيَٰتِ ثُمَّ ٱنظُرۡ أَنَّىٰ
يُؤۡفَكُونَ ٧٥

**عیسی ابن مریم صرف د الله تعالی پیغمبر و او له هغه نه وړاندې هم پیغمبران تیر شوی دی. د ده مور یوه نیکه او ربښتونی ښځه وه ، دواړو( مور او ځوی د نورو انسانانو په شان) خوراک- څښاک کاوه. وګوره مونږ څنګه دوی ته (د خپل توحید) دلایل بیانوو، تر څو وپوهیږی ( چې پیدا کیدونکی او خوراک- څښاک ته محتاج کسان، د خدایی مقام ته نشی رسیدی.) او بیا وګوره چې دوی څنګه( له حق نه باطل ته) منحرف کیږی.**

قُلۡ أَتَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَمۡلِكُ لَكُمۡ ضَرّٗا وَلَا
نَفۡعٗاۚ وَٱللَّهُ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ٧٦

**آیا د الله تعالی په مقابل کې د داسې شیانو پرستش کوئ چې نه درنه شر دفع کولی شی او نه درته خیر رسولی شی، او یوازې د الله تعالی ذات دی چې ( د هر چا خبرې) اوری او (په ټولو اسرارو او رازونو) خبر دی.**

قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لَا تَغۡلُواْ فِي دِينِكُمۡ غَيۡرَ ٱلۡحَقِّ وَلَا
تَتَّبِعُوٓاْ أَهۡوَآءَ قَوۡمٖ قَدۡ ضَلُّواْ مِن قَبۡلُ وَأَضَلُّواْ كَثِيرٗا
وَضَلُّواْ عَن سَوَآءِ ٱلسَّبِيلِ ٧٧

ای ( پیغمبره !) اهل کتابو ته ووایه چې په ناحقه پخپل دین کي افراط او تفریط مه کوئ او د هغي ډلي د هوا او هوس پیروی هم مه کوئ چې مخکي له دې( د جهالت له امله) بې لارې شوی، نور ډېر خلک یې هم گمراه کړی او پخپله هم له حقې لارې نه منحرف دی.

لُعِنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۢ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ عَلَىٰ لِسَانِ دَاوُۥدَ
وَعِيسَى ٱبۡنِ مَرۡيَمَۚ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَواْ وَّكَانُواْ يَعۡتَدُونَ ٧٨

د بنی اسرائیلو کافران، د داود او عیسی ابن مریم په ژبو ورټل شول او لعنت ورباندې وویل شو، دا ځکه چې( د الله تعالی فرمان او د انبیاو نصیحت) یې و نه مانه ( او په ظلم او فساد سره یې له الهی حدودو څخه) تیری کاوه.

كَانُواْ لَا يَتَنَاهَوۡنَ عَن مُّنكَرٖ فَعَلُوهُۚ لَبِئۡسَ مَا
كَانُواْ يَفۡعَلُونَ ٧٩

دوی نه پخپله له ناوړه اعمالو لاس اخست او نه یې نور خلک له نواهیو منع کول، څه بد اعمال وو چې دوی پرې اخته وو.

تَرَىٰ كَثِيرٗا مِّنۡهُمۡ يَتَوَلَّوۡنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۚ لَبِئۡسَ مَا
قَدَّمَتۡ لَهُمۡ أَنفُسُهُمۡ أَن سَخِطَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ وَفِي ٱلۡعَذَابِ هُمۡ
خَٰلِدُونَ ٨٠

د (مدينې منورې) زياتره(يهوديانو) ته ګورې چې( د مکې معظمې) له کافرانو سره يې د دوستی مزی ټينګ کړی( او د مسلمانانو په ضد له مشرکانو سره په يوه صف کې ودريږی.) د ناوړو اعمالو څه بده توښه ده چې د دوی سرکښو او باغی نفسونو د دوی لپاره (آخرت ته) وړاندې له وړاندې استولې، داسې توښه چې دوی ته به د الله تعالى د ابدی قهر او عذاب سبب شی.

وَلَوۡ كَانُواْ يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلنَّبِيِّ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ مَا ٱتَّخَذُوهُمۡ أَوۡلِيَآءَ وَلَٰكِنَّ كَثِيرٗا مِّنۡهُمۡ فَٰسِقُونَ ﴿٨١﴾

او که (يهوديانو واقعاً ) په الله تعالى او (موسى يا آخر زمان) پيغمبر او په هغه کتاب چې پيغمبر ته نازل شوی، ايمان راوړی وی ، نو کفار او مشرکان به يې د خپلو دوستانو او سرپرستانو په حيث نه ټاکل، خو حقيقت دا دی چې د دوی زياتره کسان فاسقان او له دين نه منحرف دی.

۞ لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ ٱلنَّاسِ عَدَٰوَةٗ لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱلۡيَهُودَ وَٱلَّذِينَ أَشۡرَكُواْۖ وَلَتَجِدَنَّ أَقۡرَبَهُم مَّوَدَّةٗ لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّا نَصَٰرَىٰۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّ مِنۡهُمۡ قِسِّيسِينَ وَرُهۡبَانٗا وَأَنَّهُمۡ لَا يَسۡتَكۡبِرُونَ ﴿٨٢﴾

( ای مخاطبه!) ته به ووينې چې د مؤمنانو لپاره تر ټولو سخت زړی دښمنان، يهود او مشرکان دی خو په دوستۍ او مهربانۍ کی ورته نږدې کسان هغه دی چې ځانونه مسيحيان بولی، ځکه په دوی کې داسې پوهان او پرهيزګاران شته چې( په خپلو دينی علومو کې د پوهې او د الله تعالى له ويرې ،د حق په اوريدو او پيروی کې) تکبر نه کوی.

وَإِذَا سَمِعُواْ مَآ أُنزِلَ إِلَى ٱلرَّسُولِ تَرَىٰٓ أَعۡيُنَهُمۡ تَفِيضُ مِنَ ٱلدَّمۡعِ مِمَّا عَرَفُواْ مِنَ ٱلۡحَقِّۖ يَقُولُونَ رَبَّنَآ ءَامَنَّا فَٱكۡتُبۡنَا مَعَ ٱلشَّٰهِدِينَ ﴿٨٣﴾

او کله چې په پيغمبر باندې نازليدونکی (الهی) کلام اوری، د حق په پيژندو او پوهيدو يې د خوښۍ او مينې اوښکې له سترګو را بهيږی(او په اخلاص او عاجزی) وايی: ای زمونږ ربه! مونږ ايمان راوړی نو په هغو

شاهدانو  کې مو وشمیره چې( د پیغمبر او قرآن په حقانیت باندې گواهی ورکوی).

وَمَا لَنَا لَا نُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَمَا جَآءَنَا مِنَ ٱلۡحَقِّ وَنَطۡمَعُ أَن يُدۡخِلَنَا رَبُّنَا
مَعَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلصَّٰلِحِينَ ٨٤

او مونږ ولې  په الله تعالی  او د هغه په حق( قرآن او پیغمبر) ایمان رانه وړو،  په داسې حال کې چې حق راته رارسیدلی او له خپل رب نه  دا ارزو هم لرو چې مونږ به د صالحینو په کتار کې (جنت ته) داخل کړی.

فَأَثَٰبَهُمُ ٱللَّهُ بِمَا قَالُواْ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ
وَذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ٨٥

(په حق باندې) د دوی د دغه ربښتونی اعتراف له امله ورته الله پاک ،(د الهی نعمتونو ډکو)روانو ویالو لرونکی جنتونه، ور په برخه کړل چې تل تر تله به پکی اوسی، همدغه دی د نیکانو او مخلصانو لپاره الهی مکافات. ( د دغو  مبارکو آیتونو  مصداق د حبشي د نویو ایمان راوړونکو عیسایانو هغه اویا کسیزه جرگه وه چې په مدینه منوره کې د رسول الله مبارک او اقدس حضور ته راغله او د مبارک قرآن په اوریدو ورباندې سخت رقت طاری شو او په ژړاگانو او سلگو کې یې په ژبو د « ربنا آمنا» کلمات تکراریدل).

وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِـَٔايَٰتِنَآ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَحِيمِ ٨٦

او (پاتې شو) هغه کسان چې د کفر لاره  یې نیولې او زمونږ د آیتونو مخالفت او تکذیبولو ته یې ملا تړلې، نو دوی د دوزخ اوسیدونکی دی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُحَرِّمُواْ طَيِّبَٰتِ مَآ أَحَلَّ ٱللَّهُ لَكُمۡ وَلَا
تَعۡتَدُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُعۡتَدِينَ ٨٧

ای مؤمنانو! هغه پاک شیان چې الله تعالی درته حلال کړی، په ځان، مه حراموی او( د الله له حدودو) تیری مه کوی، (ځکه) الله تعالی تیری کوونکی نه خوښوی.

وَكُلُواْ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ حَلَٰلًا طَيِّبًاۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِيٓ أَنتُم بِهِۦ
مُؤۡمِنُونَ ﴿٨٨﴾

او وخورئ هغه پاکه او حلاله روزی چې الله پاک درکړې،او د هغه رب ( له نافرمانئ نه ) ځانونه وساتئ، چې تاسو ورباندې ايمان لرئ.

لَا يُؤَاخِذُكُمُ ٱللَّهُ بِٱللَّغۡوِ فِيٓ أَيۡمَٰنِكُمۡ وَلَٰكِن يُؤَاخِذُكُم بِمَا عَقَّدتُّمُ
ٱلۡأَيۡمَٰنَۖ فَكَفَّٰرَتُهُۥٓ إِطۡعَامُ عَشَرَةِ مَسَٰكِينَ مِنۡ أَوۡسَطِ مَا تُطۡعِمُونَ
أَهۡلِيكُمۡ أَوۡ كِسۡوَتُهُمۡ أَوۡ تَحۡرِيرُ رَقَبَةٖۖ فَمَن لَّمۡ يَجِدۡ فَصِيَامُ ثَلَٰثَةِ
أَيَّامٖۚ ذَٰلِكَ كَفَّٰرَةُ أَيۡمَٰنِكُمۡ إِذَا حَلَفۡتُمۡۚ وَٱحۡفَظُوٓاْ أَيۡمَٰنَكُمۡۚ كَذَٰلِكَ
يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ﴿٨٩﴾

الله تعالی،په بيهوده او بې هدفه قسمونو، تاسو نه نيسی، خو په هغو قسمونو درسره حساب کوی چې په جدی او ارادی توګه يې ياد کړی( او بيا پری عمل و نه کړئ). نو د دغو ارادی او ټينګو قسمونو د ماتولو کفاره، دا ده چې لسو تنو مسکينانو ته به هغه متوسط خواړه برابروئ چې تاسو يې پخپلو کورونو کې خورئ، يا به ورته هماغه ډول کالی برابروئ او يا به يو تن غلام، له غلامئ نه خلاصوئ. او که د دغو دريواړو ډولو کفارې اداء کولو وس او طاقت نه لرئ نو بيا درې ورځې روژه ونيسئ. دا ستاسو د هغو قسمونو کفاره ده (چې مات کړی مو دی) نو لازمه ده چې پخپلو(شرعی) سوګندونو وفادار پاتې شئ. په دې توګه الله تعالی تاسو ته خپل آيتونه بيانوی تر څو يې مننه او شکريه په ځای کړئ.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّمَا ٱلۡخَمۡرُ وَٱلۡمَيۡسِرُ وَٱلۡأَنصَابُ وَٱلۡأَزۡلَٰمُ رِجۡسٞ مِّنۡ عَمَلِ
ٱلشَّيۡطَٰنِ فَٱجۡتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ﴿٩٠﴾

ای مؤمنانو! شراب، قمار، بتان او د فال غشی، بی له شکه د شيطان اعمال دی نو ځان ترې وساتئ تر څو مو برئ او نيکمرغی په برخه شی.

إِنَّمَا يُرِيدُ ٱلشَّيْطَٰنُ أَن يُوقِعَ بَيْنَكُمُ ٱلْعَدَٰوَةَ وَٱلْبَغْضَآءَ فِى ٱلْخَمْرِ
وَٱلْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَن ذِكْرِ ٱللَّهِ وَعَنِ ٱلصَّلَوٰةِ ۖ فَهَلْ أَنتُم مُّنتَهُونَ ﴿٩١﴾

**شیطان غواړي چې د شرابو او جوارۍ په ترویج سره ستاسو تر منځ دښمني او کینه پیدا کړي او د الله تعالی له یادو او لمانځه نه مو غافل کړي، نو آیا تاسو( له دغو خطرناکو شیانو څخه) لاس اخستونکي یاست ؟( باید خامخا ترې لاس واخلئ).**

وَأَطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُوا۟ ٱلرَّسُولَ وَٱحْذَرُوا۟ ۚ فَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّمَا عَلَىٰ
رَسُولِنَا ٱلْبَلَٰغُ ٱلْمُبِينُ ﴿٩٢﴾

**او د الله تعالی او د هغه د رسول اطاعت وکړئ( او له نافرمانۍ نه يې) ځانونه وساتئ، خو که مو له الهي اوامرو نه انکار وکړ( د سزا مستحق یاست) او باید وپوهیږئ چې زمونږ د پیغمبر وظیفه یوازې او یوازې د الهي احکامو رسول دي.**

لَيْسَ عَلَى ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوٓا۟ إِذَا
مَا ٱتَّقَوا۟ وَّءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟ ٱلصَّٰلِحَٰتِ ثُمَّ ٱتَّقَوا۟ وَّءَامَنُوا۟ ثُمَّ ٱتَّقَوا۟ وَّأَحْسَنُوا۟ ۗ
وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٩٣﴾

**څوک چې د ایمان او نیک عمل خاوندان دي( د تحریم له حکم نه وړاندې چې يې څه مسکرات) خوړلي اوڅښلي، مؤاخذه يې نشته، په دې شرط چې اوس له حرامو ځان وساتي( او د تحریم په آیتونو) ایمان راوړي، او نیک عملونه وکړي، بیاهم ( د تحریم په آیتونو) ټینګ ایمان ولري او په تقوا او پرهیزګارۍ باندې ثابت پاتې شي،( له محرماتو نه) ځان وساتي او نیکو اعمالو ته ادامه ورکړي. بیشکه چې الله تعالی له نیک عمله پرهیزګارانو سره ډیره مینه لري( او د هغوی د اخلاص سره سم به ورته مناسب اجر او ثواب ورکړي).**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَيَبْلُوَنَّكُمُ ٱللَّهُ بِشَىْءٍ مِّنَ ٱلصَّيْدِ تَنَالُهُۥٓ أَيْدِيكُمْ
وَرِمَاحُكُمْ لِيَعْلَمَ ٱللَّهُ مَن يَخَافُهُۥ بِٱلْغَيْبِ ۚ فَمَنِ ٱعْتَدَىٰ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَلَهُۥ عَذَابٌ
أَلِيمٌ ﴿٩٤﴾

ای مؤمنانو! الله تعالی تاسو په ازمایښتی توګه له یو ډول ښکار نه منع کوی او درته امر کوی چې( د احرام په حالت کې د هغو وحشی حیواناتو او مارغانو) له ښکار نه ډډه وکړئ چې تاسو یې په خپلو لاسو او غشو د ویشتلو او ښکار کولو قدرت لرئ.( د دې ممنوعیت لوی هدف) د هغو صادقو او مخلصو مؤمنانو پیژندل او تفکیک کول دی چې په غائبانه توګه له الله تعالی نه ویریږی. او څوک چې د الله تعالی له دې امر( او حدودو) نه د بغاوت په توګه( د احرام په حال کی ښکار وکړی) له دردوونکی عذاب سره به مخامخ شی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَقۡتُلُواْ ٱلصَّيۡدَ وَأَنتُمۡ حُرُمٞۚ وَمَن قَتَلَهُۥ مِنكُم مُّتَعَمِّدٗا
فَجَزَآءٞ مِّثۡلُ مَا قَتَلَ مِنَ ٱلنَّعَمِ يَحۡكُمُ بِهِۦ ذَوَا عَدۡلٖ مِّنكُمۡ هَدۡيَۢا بَٰلِغَ
ٱلۡكَعۡبَةِ أَوۡ كَفَّٰرَةٞ طَعَامُ مَسَٰكِينَ أَوۡ عَدۡلُ ذَٰلِكَ صِيَامٗا لِّيَذُوقَ وَبَالَ
أَمۡرِهِۦۗ عَفَا ٱللَّهُ عَمَّا سَلَفَۚ وَمَنۡ عَادَ فَيَنتَقِمُ ٱللَّهُ مِنۡهُۚ وَٱللَّهُ عَزِيزٞ ذُو
ٱنتِقَامٍ ﴿٩٥﴾

ای مؤمنانو! د احرام په حال کې ښکار مه وژنئ( ښکار مه کوئ) او که چا قصداً کوم ځاروی وواژه نو په بدل کې به د دوو هوښیارو او عادلو کسانو تر نظارت لاندې بل همـاغه شان ځاروی د نذراني په توګه کعبې شریفې ته رسوی، یا به د کفارې په توګه څو تنو مسکینانو ته خواړه برابروی او یا به په مناسبه اندازه روژې نیسی، دغه یې د خپل عمل د مجازات خوند دی چې باید ویې څکی.الله تعالی ستاسو تیر اعمال دربښلی خو که څوک( د تحریم له حکم نه وروسته) بیا ښکار ووژنی، انتقام به ترې اخستل کیږی، الله پاک په هر کار برلاسی او انتقام اخستونکی ذات دی( البته د احرام په حالت کې د مار، لړم، سپږې او داړونکی سپی وژل معاف دی).

أُحِلَّ لَكُمۡ صَيۡدُ ٱلۡبَحۡرِ وَطَعَامُهُۥ مَتَٰعٗا لَّكُمۡ وَلِلسَّيَّارَةِۖ وَحُرِّمَ عَلَيۡكُمۡ
صَيۡدُ ٱلۡبَرِّ مَا دُمۡتُمۡ حُرُمٗاۗ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِيٓ إِلَيۡهِ
تُحۡشَرُونَ ﴿٩٦﴾

حلاله کړی شوې ده تاسو( مسلمانانو) ته د سمندری حیواناتو ښکار او له هغو نه د ترلاسه شویو خواړو خوراک چې پخپله ترې هم ګټه واخلئ او د مسافرو لپاره یې هم( وچه او کانسرو کړئ)، او حرام کړی شوی دی په تاسو باندې د ځمکنیو حیواناتو ښکار په حالت د احرام کې. او له خپل هغه رب څخه وویریږئ چې تاسو ټول به یې( د حساب کتاب لپاره) حضور ته راجمع کړی شی.

۞ جَعَلَ ٱللَّهُ ٱلْكَعْبَةَ ٱلْبَيْتَ ٱلْحَرَامَ قِيَٰمًا لِّلنَّاسِ وَٱلشَّهْرَ
ٱلْحَرَامَ وَٱلْهَدْىَ وَٱلْقَلَٰٓئِدَ ۚ ذَٰلِكَ لِتَعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ
وَمَا فِى ٱلْأَرْضِ وَأَنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴿٩٧﴾

الله تعالی د ویاړمنې کعبې شریفې( زیارت)، د حرام میاشت او د قربانۍ نښنه لرونکی او بې نښنې څاروی، د خلکو لپاره( د دنیوی او اخروی ژوندانه) د سمبالښت او قوام وسیله ټاکلې ده، تر څو تاسو وپوهیږئ چې الله تعالی د ځمکې او آسمانونو په اسرارو ډیر ښه خبر او په هر څه پوه ذات دی.

ٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ وَأَنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿٩٨﴾

( او په دې هم) وپوهیږئ چې الله تعالی د سختو سزاګانو ورکوونکی او په عین حال کې ښښونکی او رحمت لرونکی ذات دی.

مَّا عَلَى ٱلرَّسُولِ إِلَّا ٱلْبَلَٰغُ ۗ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا تَكْتُمُونَ ﴿٩٩﴾

د پیغمبر وظیفه یوازې ( خلکو ته د الهی وحې رسول او) ابلاغ دی او الله تعالی ستاسو په پټو او ښکاره اعمالو ډیر ښه خبر دی.

قُل لَّا يَسْتَوِى ٱلْخَبِيثُ وَٱلطَّيِّبُ وَلَوْ أَعْجَبَكَ كَثْرَةُ ٱلْخَبِيثِ ۚ
فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ يَٰٓأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿١٠٠﴾

ووایه: ناپاک او پاک( لکه کافر او مؤمن، معصیت او طاعت. حرام او حلال) سره یو برابر نه دی که څه هم د ناپاکو ډیر والی تاسو ته عجیب ښکاره شی. نو ای د عقل خاوندانو! له الله تعالی نه وویریږئ( او د حلالو او طیباتو په لور هڅه وکړئ) تر څو مو نیکمرغی او بریالیتوب په برخه شی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَسْـَٔلُوا۟ عَنْ أَشْيَآءَ إِن تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ
وَإِن تَسْـَٔلُوا۟ عَنْهَا حِينَ يُنَزَّلُ ٱلْقُرْءَانُ تُبْدَ لَكُمْ عَفَا ٱللَّهُ عَنْهَا ۗ وَٱللَّهُ
غَفُورٌ حَلِيمٌ ﴿١٠١﴾

ای مؤمنانو! د هغو مسایلو او احکامو په باب( بې ځایه او بې ضرورته) پوښتنې مه کوئ چې( اسلامی شریعت نه دی بیان کړی او الله تعالی یې هم د مهربانی له مخې تاسو ته امر او نهي نه ده کړې) او که په ځرګنده توګه بیان شی، ستاسو لپاره به د تکلیف سبب شی. دغه راز که د قرآن د نزول په وخت کې،( له پیغمبر نه) د هغو په باب پوښتنه وکړئ تاسو ته به یې( د قرآنی وحې په رڼا کې) تشریح کړی خو الله تعالی( په تاسو باندې د تکلیف او پریشانی د کمولو لپاره) دغسې احکام نه بیانوی او ستاسو د تیرو پوښتنو هم درته ښښنه کوی. ځکه چې الله تعالی ښښونکی او د زیات زغم لرونکی ذات دی.

قَدۡ سَأَلَهَا قَوۡمٞ مِّن قَبۡلِكُمۡ ثُمَّ أَصۡبَحُواْ بِهَا كَٰفِرِينَ ١٠٢

له تاسو نه وړاندې هم یوې ډلې د نامعلومو مسایلو په باب پوښتنې کولې خو کله چې ورته د تطبیق لپاره احکام ورکړی شول مخ یې ترې واړاوه او وربانډې کافران شول.

مَا جَعَلَ ٱللَّهُ مِنۢ بَحِيرَةٖ وَلَا سَآئِبَةٖ وَلَا وَصِيلَةٖ وَلَا حَامٖ وَلَٰكِنَّ ٱلَّذِينَ
كَفَرُواْ يَفۡتَرُونَ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَۖ وَأَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡقِلُونَ ١٠٣

الله تعالی هیڅ کومه بحیره( هغه اوښه چې لس بچی به یې زیږولی وو او بتانو ته به وقف وه )، سائبه( هغه اوښه چې د نذر په ډول د بتانو په نوم آزاده پریښودل کیده )، وصیله( هغه اوښه چې دوه غبرګونی بچی یې زیږولی وی) او حام( هغه اوښ چې له نسل نه یې لس اوښان پیدا شوی وو او بتانو ته نذر کیده) مقدس او ممنوع التصرف نه دی اعلان کړی، خو کافران په الله تعالی باندې د دروغو تومت تړی او زیاتره یې بې عقله ناپوهان دی( چې د جاهلیت د زمانې د منحط فرهنګ د اوهامو او خرافاتو پیروی کوی).

وَإِذَا قِيلَ لَهُمۡ تَعَالَوۡاْ إِلَىٰ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ وَإِلَى ٱلرَّسُولِ قَالُواْ حَسۡبُنَا
مَا وَجَدۡنَا عَلَيۡهِ ءَابَآءَنَآۚ أَوَلَوۡ كَانَ ءَابَآؤُهُمۡ لَا يَعۡلَمُونَ شَيۡـٔٗا وَلَا
يَهۡتَدُونَ ١٠٤

او کله چې دغو ( هوس پرستانو) ته وویل شی چې راشئ د الله تعالی نازل کړی شویو احکامو ته چې پیغمبر یې بیانوی غاړه کیږدئ( تر څو د هدایت په لاره برابر شئ) نو وایی: مونږ به یوازې په هغو قوانینو عمل کوو چې زمونږ پلرونه او نیکونه وربانډې روان وو، که څه هم د دوی پلرونه او نیکونه، نه په څه پوهیدل او نه د هدایت په لاره روان وو،( خو دوی بیاهم دغه جاهلانه او ناروا تقلید د ځان لپاره خوښوی).

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ عَلَيۡكُمۡ أَنفُسَكُمۡۖ لَا يَضُرُّكُم مَّن ضَلَّ إِذَا
ٱهۡتَدَيۡتُمۡۚ إِلَى ٱللَّهِ مَرۡجِعُكُمۡ جَمِيعٗا فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ
تَعۡمَلُونَ ١٠٥

**ای مؤمنانو! د خپل( ایمان او معنوی ارزښتونو) ساتنه وکړی، که تاسو د هدایت په لاره برابر یاست، گمراهان تاسو ته هیڅ زیان نشی اړولی، تاسو ټول د الله تعالی حضور ته ورگرځئ او هغه پاک ذات به تاسو ته ستاسو د اعمالو نتایج اعلان کړی.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ شَهَٰدَةُ بَيۡنِكُمۡ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ ٱلۡمَوۡتُ حِينَ
ٱلۡوَصِيَّةِ ٱثۡنَانِ ذَوَا عَدۡلٖ مِّنكُمۡ أَوۡ ءَاخَرَانِ مِنۡ غَيۡرِكُمۡ إِنۡ أَنتُمۡ
ضَرَبۡتُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَأَصَٰبَتۡكُم مُّصِيبَةُ ٱلۡمَوۡتِۚ تَحۡبِسُونَهُمَا مِنۢ بَعۡدِ
ٱلصَّلَوٰةِ فَيُقۡسِمَانِ بِٱللَّهِ إِنِ ٱرۡتَبۡتُمۡ لَا نَشۡتَرِي بِهِۦ ثَمَنٗا وَلَوۡ كَانَ ذَا
قُرۡبَىٰ وَلَا نَكۡتُمُ شَهَٰدَةَ ٱللَّهِ إِنَّآ إِذٗا لَّمِنَ ٱلۡأٓثِمِينَ ١٠٦

**ای مؤمنانو! که ستاسو په کوم یو تن کې د مرگ اثار او علایم ښکاره شی( او وغواړی وصیت وکړی) نو باید دوه تنه عادل مسلمانان د گواهانو په توگه وټاکی، او که په سفر کې یاست او د مرگ له غمیزې سره مخ شئ( او مسلمانان گواهان پیدا نشی) نو دوه تنه غیر مسلمانان هم ټاکلی شئ. که تاسو د گواهانو( په صداقت باندې) شکمن شی، دواړه د لمانځه نه وروسته ایسار کړئ او هغوی باید په الله تعالی قسم وکړی چې مونږ حقه گواهی په شخصی گټو او پیسو، نه خرڅوو، او نه پکې د خپلو، خپلوانو مراعات کوو، او که مو د الله گواهی پټه کړه نو په گناهکارانو کې دې وشمیرل شو.**

فَإِنۡ عُثِرَ عَلَىٰٓ أَنَّهُمَا ٱسۡتَحَقَّآ إِثۡمٗا فَـَٔاخَرَانِ يَقُومَانِ مَقَامَهُمَا مِنَ
ٱلَّذِينَ ٱسۡتَحَقَّ عَلَيۡهِمُ ٱلۡأَوۡلَيَٰنِ فَيُقۡسِمَانِ بِٱللَّهِ لَشَهَٰدَتُنَآ أَحَقُّ
مِن شَهَٰدَتِهِمَا وَمَا ٱعۡتَدَيۡنَآ إِنَّآ إِذٗا لَّمِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٠٧

خو كه ثابته شی چې ګواهانو دروغ ويلی او خائنونه يې په ګناه اخته کړی، نو د هغوی په ځای دې، د وارثانو له ډلې دوه تنه نور، د ګواهۍ مستحق او اهل کسان، په الله تعالی قسم ياد کړی چې زمونږ ګواهی د پخوانيو په نسبت، ډيره په حقه ده او كه مونږ پکې له حق نه تيری وکړو نو په ظالمانو کې دې وشميرل شو.

ذَٰلِكَ أَدۡنَىٰٓ أَن يَأۡتُواْ بِٱلشَّهَٰدَةِ عَلَىٰ وَجۡهِهَآ أَوۡ يَخَافُوٓاْ أَن تُرَدَّ أَيۡمَٰنُۢ بَعۡدَ
أَيۡمَٰنِهِمۡۗ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱسۡمَعُواْۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ١٠٨

دا حکم د دې لپاره دی تر څو ګواهان ريښتونی ګواهی ورکړی او دا ويره ورسره وی چې که( دروغ ووايی کيدی شی) دوه نور ګواهان ورپسې راشی او د دوی قسمونه باطل کړی. له الله تعالی نه وويريږئ او( اوامر او هدايات يې د زړه په غوږو) واوری(او وپوهيږئ چې) الله تعالی فاسقانو ته د نيکې لارښوونه، نه کوی ( او نه يې د حقيقی بری او کاميابئ په لور روانوی).

۞ يَوۡمَ يَجۡمَعُ ٱللَّهُ ٱلرُّسُلَ فَيَقُولُ مَاذَآ أُجِبۡتُمۡۖ قَالُواْ لَا عِلۡمَ لَنَآۖ إِنَّكَ
أَنتَ عَلَّٰمُ ٱلۡغُيُوبِ ١٠٩

( له هغې ورځې وويريږئ) چې الله تعالی ټول پيغمبران خپل حضور ته راوغواړی او ورته وفرمايی:( کله چې مو خلک زما احکامو منلو ته رابلل،) ځواب يې څه و؟ هغوی به عرض وکړی: مونږ ته هيڅ معلومات نشته. ته يوازينی ذات يې چې د غيبو په اسرارو او پټو حقايقو پوهيږی.

إِذۡ قَالَ ٱللَّهُ يَٰعِيسَى ٱبۡنَ مَرۡيَمَ ٱذۡكُرۡ نِعۡمَتِي عَلَيۡكَ وَعَلَىٰ وَٰلِدَتِكَ إِذۡ
أَيَّدتُّكَ بِرُوحِ ٱلۡقُدُسِ تُكَلِّمُ ٱلنَّاسَ فِي ٱلۡمَهۡدِ وَكَهۡلٗاۖ وَإِذۡ
عَلَّمۡتُكَ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَٱلتَّوۡرَىٰةَ وَٱلۡإِنجِيلَۖ وَإِذۡ تَخۡلُقُ
مِنَ ٱلطِّينِ كَهَيۡـَٔةِ ٱلطَّيۡرِ بِإِذۡنِي فَتَنفُخُ فِيهَا فَتَكُونُ طَيۡرَۢا بِإِذۡنِيۖ
وَتُبۡرِئُ ٱلۡأَكۡمَهَ وَٱلۡأَبۡرَصَ بِإِذۡنِيۖ وَإِذۡ تُخۡرِجُ ٱلۡمَوۡتَىٰ بِإِذۡنِيۖ
وَإِذۡ كَفَفۡتُ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ عَنكَ إِذۡ جِئۡتَهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ
فَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡهُمۡ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا سِحۡرٞ مُّبِينٞ ١١٠

**او كله چې الله پاک وفرمایی: ای عیسی ابن مریم! زما هغه نعمت او لورینه دریاد کړه چې په تا او ستا په مور مې کړې وه. په روح القدس( جبرائیل) مې ستا حمایت او ملاتړ وکړ، او له خلکو سره دې په زانګو کې ( په اعجاز) او بیا په کره عمر کې( په وحې) خبرې کولې. او هغه هم دریاد کړه چې کتاب او حکمت( د لیک لوست علم) او تورات او انجیل مې درزده کړل. بیا به دې( د معجزې په توګه) زما په اجازه له خټې نه د مارغه مجسمه جوړه کړه، او په هغې کې به دې پوکی وکړ او زما په اجازه به ترې مارغه جوړ شه. زما په اجازه به دې مورزادی ړوند او د برګی ناروغ روغاوه او زما په اجازه به دې مړی راژوندی کول. او هغه چې د بنی اسرائیلو( شر او ضرر) مې درنه دفع کړ، چې تا ورته روښانه دلایل او معجزې راوړې او کافرانو یې وویل: دا خو له جادو او کوډو نه غیر بل څه نه دی.**

وَإِذۡ أَوۡحَيۡتُ إِلَى ٱلۡحَوَارِيِّـۧنَ أَنۡ ءَامِنُواْ بِي وَبِرَسُولِي قَالُوٓاْ ءَامَنَّا
وَٱشۡهَدۡ بِأَنَّنَا مُسۡلِمُونَ ١١١

**او هغه وخت رایاد کړه چې ستا حواریانو(ملاتړو) ته مې الهام وکړ چې په ما او زما په رسول ایمان راوړۍ، هغوی ومنله او ویې ویل : مونږ ایمان راوړی او( ای الله) ته ګواه اوسه چې مونږ( ستا احکامو او فرمانونو ته) تسلیم یو.**

إِذۡ قَالَ ٱلۡحَوَارِيُّونَ يَٰعِيسَى ٱبۡنَ مَرۡيَمَ هَلۡ يَسۡتَطِيعُ رَبُّكَ أَن
يُنَزِّلَ عَلَيۡنَا مَآئِدَةٗ مِّنَ ٱلسَّمَآءِۖ قَالَ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ إِن كُنتُم
مُّؤۡمِنِينَ ١١٢

**او کله چې حواریانو وویل: ای عیسی ابن مریم! که رب دې وکولی شی چې زمونږ لپاره د خوراکونو ډک دسترخوان له آسمانه رانازل کړی؟ هغه وویل: که ایمان لرئ نو له خدایه وویرېږئ،( د اوامرو او نواهیو متابعت یې وکړئ او بې ځایه سوالونه مه کوئ).**

قَالُواْ نُرِيدُ أَن نَّأۡكُلَ مِنۡهَا وَتَطۡمَئِنَّ قُلُوبُنَا وَنَعۡلَمَ أَن قَدۡ
صَدَقۡتَنَا وَنَكُونَ عَلَيۡهَا مِنَ ٱلشَّٰهِدِينَ ١١٣

**حواریانو وویل: مونږ غواړو له دغه دسترخوانه( د تبرک په توګه څه) وخورو،او خپل زړونه( د خپل رب په قدرت او یقین) مطمئن کړو او ( په عین الیقین سره) په دې هم پوه شو( چې ته د نبوت په ادعا کې) مونږ ته رښتونی یې او مونږ هم ( ستا په نبوت ) شاهدان واوسو.**

قَالَ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ ٱللَّهُمَّ رَبَّنَآ أَنزِلۡ عَلَيۡنَا مَآئِدَةٗ مِّنَ ٱلسَّمَآءِ تَكُونُ
لَنَا عِيدٗا لِّأَوَّلِنَا وَءَاخِرِنَا وَءَايَةٗ مِّنكَۖ وَٱرۡزُقۡنَا وَأَنتَ خَيۡرُ
ٱلرَّٰزِقِينَ ١١٤

**عیسی ابن مریم( چې ولیدل د حواریانو درخواست یې د قلبی اطمینان د زیاتوالی لپاره دی، دعا یې وکړه او) ویې ویل: ای ربه! مونږ ته د خوراکونو ډک دسترخوان له آسمانه را نازل کړه( چې د نزول ورځ یې) زمونږ د معاصر او سبانی نسل لپاره د اختر ورځ او( زما د نبوت د ثبوت لپاره) ستا له خوا یوه نښه او معجزه وی. او مونږ ته( د تل لپاره) روزی راکړه، بیشکه چې ته ډېر ښه روزی ورکوونکی یې.**

قَالَ ٱللَّهُ إِنِّي مُنَزِّلُهَا عَلَيۡكُمۡۖ فَمَن يَكۡفُرۡ بَعۡدُ مِنكُمۡ فَإِنِّيٓ أُعَذِّبُهُۥ عَذَابٗا
لَّآ أُعَذِّبُهُۥٓ أَحَدٗا مِّنَ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١١٥﴾

**الله تعالی( د عیسی دعا قبوله کړه او) ویې فرمایل: زه به دغه دسترخوان په تاسو نازل کړم خو که وروسته له هغه هم ستاسو له ډلې څوک د کفر او الحاد لاره ونیسی( او د عیسی نبوت او معجزات رد کړی) نو داسې سخت عذاب به ورکړم چې په نړی کې به مې هیچا ته نه وی ورکړی.**

وَإِذۡ قَالَ ٱللَّهُ يَٰعِيسَى ٱبۡنَ مَرۡيَمَ ءَأَنتَ قُلۡتَ لِلنَّاسِ ٱتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ
إِلَٰهَيۡنِ مِن دُونِ ٱللَّهِۖ قَالَ سُبۡحَٰنَكَ مَا يَكُونُ لِيٓ أَنۡ أَقُولَ مَا لَيۡسَ لِي
بِحَقٍّۚ إِن كُنتُ قُلۡتُهُۥ فَقَدۡ عَلِمۡتَهُۥۚ تَعۡلَمُ مَا فِي نَفۡسِي وَلَآ أَعۡلَمُ مَا فِي
نَفۡسِكَۚ إِنَّكَ أَنتَ عَلَّٰمُ ٱلۡغُيُوبِ ﴿١١٦﴾

**( او د قیامت ویروونکی محشر را په زړه کړئ) کله چې الله تعالی، عیسی ته وفرمایی: آیا تا خلکو ته ویلی وو چې د الله تعالی په مقابل کې، ما او زما مور د دوو خدایانو په حیث وټاکئ( او زمونږ عبادت وکړئ)؟ عیسی به ووایی: سبحان الله، ته له شرک نه کاملاً پاک یې، زه هیڅکله له خپل حق او صلاحیت نه پورته خبره نه کوم. که ما دغه خبره کړی وی نو ته به وربانديې ښه خبر یې.(زما د ظاهری اعمالو نه علاوه) زما د زړه پټ اسرار هم تا ته ښه معلوم دی، خو زه ستا په اسرارو خبر نه یم، ته یوازینی ذات یې چې د غیبو اسرار درته معلوم دی.**

مَا قُلۡتُ لَهُمۡ إِلَّا مَآ أَمَرۡتَنِي بِهِۦٓ أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمۡۚ وَكُنتُ
عَلَيۡهِمۡ شَهِيدٗا مَّا دُمۡتُ فِيهِمۡۖ فَلَمَّا تَوَفَّيۡتَنِي كُنتَ أَنتَ ٱلرَّقِيبَ عَلَيۡهِمۡۚ
وَأَنتَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ شَهِيدٌ ﴿١١٧﴾

**ما صرف هغوی ته ستا پیغام( بې له کمی زیاتی) رسولی او ورته می ویلی : د الله تعالی عبادت وکړئ چې هم زما رب دی او هم ستاسو. او تر هغه چې زه د هغوی په منځ کې وم( له اطاعت او عصیان نه یې) خبر وم خو**

کله چې تا، زه خپل حضور ته وغوښتم، بیا ته پخپله د هغوی څارونکی او ساتونکی وې. بیشکه چې ته په هر څه حاضر او ناظر یې.

إِن تُعَذِّبۡهُمۡ فَإِنَّهُمۡ عِبَادُكَۖ وَإِن تَغۡفِرۡ لَهُمۡ فَإِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ١١٨

که ته هغوی ته( د شرک او نافرمانی له امله) سزا ورکوې نو ستا بندګان دی،(هره فیصله ورباندې صادرولی شې) او که یې وبښې نو بیشکه چې ته، نه ماتیدونکی حکیم ذات یې.( ښښنه دې د قدرت نښه ده او سزا دې هم له حکمت نه خالی نه ده).

قَالَ ٱللَّهُ هَٰذَا يَوۡمُ يَنفَعُ ٱلصَّٰدِقِينَ صِدۡقُهُمۡۚ لَهُمۡ جَنَّٰتٞ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا
ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۚ رَّضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ١١٩

الله تعالی به وفرمایی: دا هغه ورځ ده چې رښتیا ویونکو ته یې یوازې رښتونې وینا او عمل ګټه رسوی، د هغوی لپاره( له الهی نعمتونو ډځه د ډکو) روانو رودونو لرونکی جنت ور په برخه دی چې تل به پکې هستوګن وی. الله تعالی( د دوی د نیکو اعمالو له امله) له دوی خوشحاله دی او دوی( د لوی اجر او ثواب په ګټلو) له خپل رب نه خوښ او احسان منونکی دی. همدغه ده لویه کامیابی( او عظیمه نیکمرغی).

لِلَّهِ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَمَا فِيهِنَّۚ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرُۢ ١٢٠

د آسمانونو او ځمکې او د هغو ترمنځ د ټولو( کائناتو د قلمرو) پادشاهی او سلطنت یوازې او یوازې الله تعالی ته وقف دی او هغه په خپلو ټولو اقداماتو او چارو برلاسی او د کامل قدرت لرونکی ذات دی.

تمت سورة المائده بفضل الله رب العالمین ==================